د افغان ننګ ويب پاڼه
خپلواکه ناپيلې، ټولنيزه او فرهنګي خپرونه

# زموږ کلي او باندې





Ketabton.com

سميع الدين افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم:: | زموږ کلي او باندې |
| لیکوال:: | سمیع الدین افغاني |
| خپرندوی:: | افغان ننګ ویب پاڼه |
| کمپوز/ډیزاین:: | اجمل اکبري |
| د خپرېدو کال:: | د ۱۳۹۰ لمریز کال |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه

درنو لوستونکو
پدې کتاب کې د لغمان په اړه د دهیوادد معاصره څېړونکو او لیکوالانو د معتبره تاریخي لیکنو کره مطالب راټول شوي چې ددې مطالبو یادونه پدې کتاب کې لازم او ضروری ګڼل کیږي٠ هیله ده چې ددې مطالبو په راټولولو سره مو د لغمان په اړه درنو لوستونکو ته د پام وړ معلومات برابر کړي وي ٠
دمولانا دکتور محمد سعید سعید افغاني یادداشتونه٠
دښاغلي شهسوار سنګروال صیب لیکنه د لغمان لرغونی تاریخ او جغرافیوي موقعیت٠
دښاغلي پوهنیار ظفر اهتمام لیکنه د لغمان لرغونی تاریخ او جغرافیوي موقعیت٠
د ښاغلی نجم الدین سعدي لیکنه لغماني اوګره او دهغه دولونه
او همدارنګه د افغان ننګ د ښکلې پاڼې د قدر وړ او بادرد کارکونکو او په خاصه توګه د ښاغلي اجمل اکبری صیب نه د کتاب د تظیم برابرولو په برخه د زړه د کومي مننه کوم کور مو ودانکې ٠
دوستانو دلیکنو ته چې په کتاب کې ځای ورکړل شوی دی د دوي همکاري د یادولو او منني وړ ګڼم ٠
سمیع الدین افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړۍ برخه

## محترمو لوستونکو

لکه څنګه چې هرانسان خپل دژوند ، کوچني والي اودستريدوخوږې اوترخې خاطرې له ځانه
سره
په خپل ذهن کې لري ،څوکله چې دانسان عمر زياتيږي دکلي،کور،ښوونځی اوټول هغه
چاپيريال چې انسان پکې سترشوی دی او د ژوند مختلف پړاوونه يې پکې تير کړي دي
هميشه د هغه يادونه او خاطرې سړي ته په سترګو کيږي ، خو دا يادونه هغه وخت زيات
شي چې انسان د خپلو کلو او بانډو او وطن څخه لرې په پردي وطن کې دمسا پرى
اومهاجرت شپې او ورځې
تيروي ٠ په دغه ياداشتونو کې د کلو او بانډو عاميانه او پرګنيز کلتور ، رسم اورواجونو
سره د اشنا کيد لوترڅنګ عاميانه اوکليوالي اصطلاحاتو ته خاصه پاملرنه شوې ده چې
ترڅومو
له يوې خوا دغه اصطلاحات ژوندي ساتلي وي اوله بلې خوا ددې اصطلاحاتو په کارولو سره
دغه ليکنې ته پرګنيز رنګ اوخوند ورکړی وي٠
مورنی نيکه
زما مورنی نيکه خدای بښلی ګل احمد د مرحوم ملا صفت ځوی وه چې د لغمان دچاردهي
دصفت
د کلي په سيمه کې تقريباً دولس جريبه ځمکه لرله چې دااندازه ځمکه په لغمان کې ديوی
کورنۍ
لپاره مناسب حاصل او ښه عايد برابر ولی شي٠

په هغه کلي کې چې موړ او سيدلو د استاني بابا زيارت ، اخوند کلی او باغمرزا د کلو په
مرکزيت کې يې موقعت درلود چې د ملاصفت دکلي په نامه يادېده او دشلو کورنيو په
شاوخوا پکې هستوګنه درلوده چې د ټولو يو مشترک جومات وه ٠
جومات ته به دکلي سپين ګيري ، ځوانان او هلکان د لمانځه لپاره راتلل دجومات ملا به
دلمانځه څخه برسيره دکلي هلکانو او ماشومانو ته هر سهار د قاعدې بغدادي الفبا ، پنج
کتاب، قرانکريم ، قدري ، تفنګسايه ،تفسير، ګلستان ، د تفسير علوم او نور ديني کتابونو
تدريس کاوه ٠
نيکه به دملا اذان څخه د مخه دکلا په بياله کې اودس تازه کړ، پګړۍ به يې وتړله ،خپله شړۍ
به يې ترځان چارپيره کړه او د سهار لما نځه لپاره جومات ته ځان رساوه ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې به لمونځ وشو نو کلا ته تر رسیدلو پورې د خدای ذکر کاوه او تسبیح به یې اړولې ۰

نیابه د معمول سره سم د نیکه تر راتګه سبا ناری تیاروه ، د کلي رواج وه په سبا ناري کې به د غرمې ډوډۍ په شان هر رنګ خواړه پخیدل خو د کرتو اوربره چې دوازدې سره شوې غوړې به یې په ځرخني کې اچول د تازه سبو او د وچې شوې غوښې د قورمې سره خاص خوند او مزه لرله ۰
نیکه به کله چې د سبا ناری وکړ نو ځاروي به یې مخکې کړل او د دامان کلا په لور به روان شو ۰
د دامان کلا چې نیکه نوې جوړه کړې وه او هغه د نیکه د مځکو تر ځنګ په یوې غنډۍ کې یو اځینۍ کلا وه چې په لاندې برخه کې یې لویه بیاله وه او د دغې بیالې دواړه خواو کې د انځرو او بې دانه توتو ونې ولاړې وې چې په خپل موسم کې یې ښه انځر او خواږه توتانو حاصل ورکاوه ۰

نیکه به ځاروي د د هقان په مرسته د شوتلو په پټي کې چې شوتله یې له پخوا ریبل شوې وه په مناسب ځای کې دیوې اوږدې رسی سره چې یو سر یې د ځاروي په غاړه او په بل سر کې یې دلرګو میخ وه په پټي کې میخ کړل او خپله به د دهقان سره د زمینداری په کارونو بوخت شو ۰
نیکه ټوله مځکه محمد جان ماما ته چې د باغمراز په کلي کې د خپلی کورنی سره هستوګنه درلوده په دهقاني ورکړې وه خودی به هم ورسره جوخت د قلبې ، مالې ،تخم پاشلو او اوبو لګولو پورې مرسته کوله ۰
نیکه د دامان په مځکو کې د غنم ، جوار ، اوربشې او شوتلو تر ځنګ رنګارنګ حبوبات او ترکاري لکه رومی او توربادنجان ، بامیا یا بینډۍ ، نـوش پیاز ، ګشنیچ ، نانا ویلنی، ترایي تـر ځنګ بادرنګ، هندوانې او خټکي هم کرل او د هغو د ابو لګولو او سرې شیندلو کار به یې د محمد جان ماما سره یو ځاي تر سره کول چې ددغه کرل شو وغله جاتو ،حبوباتو او ترکاریو د حاصلاتو ځخه نه تنها موږ بلکه محمد جان ماما او کله کله کلیوالو د استفادې وړ هم ګرځیدل ۰
ددې تر ځنګ د غوا شدې ، ماسته ،کوچ او شړمبه هم د خدای هغه نعمتونه دي چې د کلو او باندو او سیدونکو لپاره خدای پیرزو کړي دي ۰

د کلي خلکو ساده او بې الایشه ژوند درلوده ،په ورځني کارونو کې رښتینولي او صداقت مهم اصل ګنل کیده او په مشکلاتو او ستونزو کې یود بل لاس نیوی کاوه، خو کله به بیا یو نیم داسې مـکاره هم پیدا شو چې د کلي ټول او سیدونکي به ورسره په عذاب وه۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلي کې دميلمه ښه احترام او عزت کيده، ميلمه ته به بر سيره پر هغه څه چې په کورکې تيار وه اضافي خوراک او څښاک هم برابرول او د ميلمه مخې ته ايښودل کيده، خو که ميلمه به مور ه وه نو دخوړو چايو څښل خو حتمي خبره وه، چې زموږ په سيمه او منطقه کې دچايو سره دبورې په ځای د ګوړې او پتاسو څخه استفاده کيدله٠

د ګوړې د جوړولو ترتيب

د ګوړې جوړول په لغمان کې د ځمکی لرونکو خلکو رواج وه، هغوی به نيم جريب او يا څو بسوې

مځکه دګنيو دکرلو لپاره جدا کړه، چې په هغه کې د ګنيو تر څنګ بادرنګ، پياز، مرچ، رومي بادنجان او نورو تر کاري او نيالونه يو ځای کـرل همدا چې

دبــادرنګو او نورو ترکاريو حاصل به واخستل شو نو ګنيو به سر را جګ کړی وه نو کله چې به ګنی ورسيدل او د استفادې وړ به شول بيا به د ګوړې جوړولو تدابير نيول کيدل، هغه داسې چـې په لغمان کې د ګوړې جوړولــو سيار ماشينونه وه چې پاخه ماهران يې درلودل٠ کله چې به ګني دګانې د ماشين څخه ووتل، او به

يا شيره به يې مخصوص بتۍ ګانو ته ور شيوه کيدلې چې ددې بتۍ ګانو لاندی اورلګيدلی وه کله چې به دګنيو شربت نيمه جامد شکل اختيار کړ بيا به يې پس له يو معين حرارت څخه يو څه نوره مساله ورګډه کړه چې ورو ورو د حلوا په شان نرمه ګوړه او پس د سړيد لو څخه کلکه او خوند وره ګوړه ورځنې جوړيدله٠

کله کله به يې مختلفی و چې ميوې لکه پسته، بادام، چارمغز او نورې مسالې ورسره ګډولې چې هغه به يې مساله داره، پسته اي، بادامي يا چار مغزي ګوړه بلله٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه برخه

# په لغمان کې د حیدر خانیو کلی او جامع جومات ۰

په لغمان کې د حیدر خاندیو کلی او جامع جومات زموږ د کلي څخه شپږ میله لرې واټن درلود او زموږه کلیوالي ښوونځی په همدې جامع جومات کې موقعت درلوده چې استاد شیر احمد خان د دې دها تې ښوونځی یواځنی استاد او مسؤول وه ۰
زموږ د عمر هلکان) په هغه وخت کې چې زه د اوو کلو وم (دی د هاتې ښوونځی ته تقریبا د ۱۲ کیلو مترو نه لرې هلکان پلی راتلل ، په دغه کلیوالي ښوونځی کې تردریم ټولګي پورې شاګردان په تعلیم بوخت وه ۰استاد شیر احمد خان چې دلوړ قد او قامت خاوند ، مهربانه اومدبر ښوونکی وه ،کله کله به یې موږ ترښوونځی پورې رهنمایي کولو او په لاره او ښوونځی کې به یې تل دنصیحت ډکې خاطرې له موږ سره شریکولې ۰

دحیدرخانیو کلی په هغه وخت کې دلاسی صنعت له نظره ډیر شهرت درلود ، هلته صنعت کارانو ښکلی چړې او چاقو ګان جوړول چې ښایسته لاستي بـه یې ورته برابرول او همدا رنګه د خمتا په اوبدلو کې یې هم خاص نوم درلود چې د حیدرخانیو دکلي خمتا نه یوازی په لغمان کې بلکه زموږ
د هیواد په نورو ولایاتو کې هم ځانګړی با زاراو ارزښت درلود ۰

زموږ په ښوونځی کې په اوسط ډول .د سلو څخه زیاتو شاګردان زده کړه کوله چې په درې صنفونو یعنې په لمړي ، دوهم او دریم صنفونو کې په تعلیم بوخت وه چې د ښونځی ټولو صنفونو لپاره صرف یو ښوونکی وه ، او استاد شیر احمد خان کولای شول چې د ټولوشاګردانو درسي ستونزې او مشکلات حل کړی۰

درسي کتابونه ټولو ته نه رسیدل ،کله به یو کتاب په دوو او یا څو شاګردانو شریک ویشل کیده ۰
ښوونکی صاحب به د دریم ټـولګي لایقه هلکان د خپل تـدریسی پروګرامو ترڅنګ په لمړی او دوهم ټولګیو کې وګمارل چـې افتخاري درس ورکـړي چې دې کار له یوې خوا لایقه شاګردان د تدریس د میتود او رویشونو سره اشنا کول او له بلې خوا دغه شاګردان د استاد شیر احمد خان سره د تدریسي پلانونو په عملي کولو کې ډیر مثمره رول لوبوه ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورږ چې د قلم ،کاغذ او نوروقرطاسیوي موادو نشتوالی احساسوه نو د کاغذ پر ځای مو دوړې
توري تختې څخه چې د خپلو کتابونو سره د ځانه سره کور ته وړ له او راوړ لـه استفاده کوله هغه
داسې چې هر شاگرد به دا وړه تخته ، دکړکو قلم اومشوانۍ چې دغنمو سیاهي به پکې وه له
ځانه سره لرله، شاگردانو به د درس دشروع کیدو څخه څو شیبې دمخه دا تخته داوبو سره
دجومات یا ښوونځی په بیالې کې مینځله او وروسته بـه یې تخته گل یا دتختې مخصوصه خټه
پرې و مښله
بـیا به یې دلاس په څنگل دا خټه په تخته کې ښه همواره کـړه ،کله چې دا اوبلنه خټه په تخته کې
په مساوی ډول همواره شوه بیا به یې لمرته کیښوده چې وچه شي چې وروسته د څو شیبو به
تخته وچه او لیکلو ته برابره شوه۰

په ښوونځی کې ددنیات، قرانکریم اوحساب ترڅنگ حسن خط ته خاصه پاملر نه وه چې په
همدې تخته کــې به مو مشق او تمرین کوه ،الفبا به مو په مشقي تـوگه په کې لیکله بـیا به مو
ښوونکی ته د اصلاح لپاره ښودله چې په همدې اسا س او طرز دکارکې شاگردانو خپل مینځي
رقابتونه هــم درلودل،هغه یو شاگرد بـه ویل چې زه یې ښکلی لیکم اوهغه بل به بیا ویل چې زه
یې تر تا ښه لیکم په همدې ډول دحرفونو ،جملو اومقالود لیکلو سیالۍ د شاگردانو په مینځ
کې روانې وې،یو شمیر نورو به په دغه تخته کې خـپلو خپلوانو ته لکه پلار ، ورنو ، کاکا ،
ماما او انډیوالانو ته د خطونو لیکل مشق او تـمرین کوه او ادبی جملې او اصطلاحات به یې
پکې کارول چې همدې رقابتونو زمورږ د ښوونځی د شاگردانو دتدریس سطحه لوړه او زمورږ
ښوونځی په سیمه کې ښه شهرت درلود او ډیر مرزایان ترې فارغ شول۰

استاد شیراحمدخان تل هڅه کـوله چې د شاگردانودرسي ستونزې او پــرابلمونه حل کړي او د
شاگردانو تدریس اوپوها وي ته یې خاصه پاملرنه درلوده، هغــه به شاگردانو ته تل ویل چې د
تعلیم سره تربیه ضـرور ده او مــورږ بایــد دې اصل ته ډیره پــاملرنه وکـړو، که څوک تعلیم
ولري اوتربیه ونه لري مکمل انسان نه دی اوپه ټولنه کې ځای نلری همدارنگه بې تعلیمه انسان
نه شي کولای په ټولنه کې دترقي او پیشرفت لپاره اوهمدا رنگه په ورځني ژوند او چارو کې
بریاوې ترلاسه کړي۰

په کلي کې دشیر وار رواج۰
په کلي کې دشیر وارر رواج هم وه هغه داسې چې دکلي درې یا څلورو کورنیو به چې د شیدو
غواوې درلودلې په وار سره یوې کورنۍ ته د خپلې غوا شیدې ورکولې چې یوه اونی به د یوه
کور او بله اونی به دبل کورچــې په ترتیب او وارسره د تماموهغه کورنیو چې په شیر وار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریک وه وار رسیده ،هرې کورنۍ به دخپلو شدو کتې واهه او اندازه یې معلوموله چې بیا په همـاغه اندازه دمقابل لوري څخه شیدې په خپل وارکې ترلاسه کړي ، پـه همدې ډول شیر وار ادامه درلوده .

دکلي ښځو په خپل مینځ کې شیر وار اچولی وه نوکله چې بـه د سهار لمونځونه وشول بیا به دکور د بیالې تر غاړې په لویو متۍ ګانو کې د مستو کټوې خالي کیدلې او دکلي ښځې به ترې چارپیره اود منداڼو په واسطه به یې دا مستې په وار سره شاربلې تر څو څګ به یې د مستو څخه جدا اوبیا به یې دچانۍ په واسطه په بله مخصوصه متۍ کې را ټول او تر هغه پورې شار بلې تر څو دڅګ څخه یې کوچ جدا او پاته شړمبه به یې دکلي په کورنو ته بلخصوص پـه هغه کورنیو چې دشدو څا روي یې نه درلودل ویشل کیدلې .

دکوچویا دغوا غوړي چې په زیړ غوړویا دیدل ډیربا ارزښه وه چې اکثرا کورنیو د هغه څخه پـه ورځیني خوراک کې استفاده کوله ، همدارنګه یو شمیر کورنیو خپل د ضرورت نه زیات کوچ او غوړي پلورل او په مقابل کې به یې دخپلو کورنیو نور داړ تیاوړ توکي پرې رانیول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه برخه

# کلیوالي ژوند او دخلکو بوختیاوې

د لغمان دخلکو ژونددزحمت ژوند وه ،هلکانو به له ښوونځی ددرسونو تر فراغتا و په کورکې دغرمې ډوډۍ وروسته په کاراوغریبۍ پسې وتل په مالدارۍ ، زمیندارۍ ،لواولور او نورو کارونو به بوخت شول، کورته به یې د سونګ لرګي برابرول ،څارویو ته به یې رشقه یا شفتله ریبله او د هغوڅارنه به یې کوله، د ژمي لــپاره به یې څارویو ته د وچو وښو څپره یا ذخیره جوړوله چې په همدې ډول کورنۍ ته د ازوقه په برابرو لوکې به یې دخپلې کورنۍ دمشرانولاس نیوی کوه ۰
په لغمان کې دکرنې مځکه دخلکو په پر تله کمه ده او د لغمان دخلکو دکورنیوعوايد دکرنې او مالداري له لارې څه نا څه تامینید ه۰

ددې مصروفیتـونو تر څنګ د کلي هلکانو تفریفحي پروګرامونه هم لرل ،ماښام به هلکان دکلي ومخې ته ووتل اوپه مختـلفو ساعت تیریو به بوخت شول، اکثرا دپهلوانی ،توپ ډنډه ،خوسی لوبه، مخ پټونی ،الله داداوډیرو نورومحلي لوبو د سپوږمۍ په شپوکې تر ناوخته پورې دوام درلود ۰
نیکه به تر مازیګره دبزګر سره دکروندې په کارونوبوخت وه ،موږ به د غرمې ډوډۍ ورته وړله۰ زموږ دهقان محمد جان نومیده ، هلکانو به ورته محمد جان ماما خطاب کا وه، محمد جان ماما شپه او ورځ په مځکه کې کار کاوه اوډیر زحمت یې ګا له خو تر اخره پورې دسوکا له ژوند خاوند پدې نه شو چې له یوې خوا د ډیر اولادوخیښتن وه او دبلې خوا د فصل دکرلو په موسم کې غنم ،جوار او یانور خوراکي مواد په ګټه یا سود اخستل اود فصل دحاصل په وخت کې یو په یونیم ګټه ورکوله ،که دفصل په سرکې به یې دسود خور څخه لس منه غله وا خستله بیا به یې د حا صل په وخت کې پینځه لس منه او که شل منه به یې ورکړې وه دیرش منه او هر څومره چې قرض زیاتیده په همغه اندازه سود خور ګټه ترې اخستله۰

دمحمد جان ماما بله چاره نه وه هغه مجبور وه چې اولادونو ته خوراک یا ازوقه برابره کړي او د سود خورو شرايط ومني، هغه کال مې نه هیریږي چې محمد جان ماما د نیکه په مځکه کې د غنمولوګډ کړ بیا یې دلو شوو غنموګیډۍ و چلول،غنم یې غوبل، باداو دیر نور زحمتو نه یې وګالل ،ددرمند په جوړولو کې نه یوا ځې محمد جان ماما بلکه دهغه میرمن او اولادونوهم ډیرې ستونزې وګاللې،خو کله چې درمند جوړ اوتللوته برابرشو ، سود خوریې سرته کیناست ، د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسیمي رواج وه چې بزګر ته به د دري برخو څخه یوه برخه رسیده، دمحمد جان ماما د خپلې برخې سربیره دلو اولور ،درمند جوړولو ،با دولو او چلولو سره سره بس همدومره شوه چې د سود خور قرض پکې مجرا شي،
سود خور چې همیشه لکه اخوند شا ګل ړیره په نکریزو سره وه دغنمو جوالونه په خره بار او دکور
په لور روان شو، محمد جان له ځایه پا څید خپلې ښځې او اولادونو ته یې وکتل اوسوړ اوسیلی یې تر خولې وخوت ۰
نیکه چې دا وضعه ولیده نو محمد جان ته یې د خپلې برخې څخه دولس منه غنم جدا کړل او ورته یې وویل چې اوس دا واخله خدای مهربانه دی کله چې مو جوار وټکول او د توکو څخه مو جدا کړل بیا به سمه مرسته در سره وکړم۰

نیکه به هره جمعې ورځ دتیرګړیو بازار ته ته ،چې کله کله به یې موږ هم له ځانه سره بیولو هغه به دجمعې لمونځ د تیرګړیو په جامع جوماتکې کاوه نو کله چې به دجمعې لمونځ وشو بیا به په بازارکې د نرخونو پوښتنه کول شروع شول چې ددې بازار څخه موکور ته چای ، بوره ، تیل ،مالګه او نور دضرورت وړ توکی را نیو ل ۰

د تیرګړو بازارته به دجمعې په ورځ له لرې ځایو څخه خلک د تجارت لپاره راتلل، دې بازارخورا ښه ګڼه ګونه اوجم ،جوش درلود ، خو کله چې حسن خان په لغمان کې والی شو بیا دنوي ښار بنسټ یې دلغمان په ولایت کې کیښوده او د تیرګړو بازار اوسني ولایت ته چې دعلیشنګ او علینګار د ولسوالیو په مرکزیت کې موقعت لري ولیږدول شو، والی حسن خان دلغمان نوی ښار چې مهتر لام ع په نامه یادیږی په ابا دولو پیل وکړ۰

حسن خان د عمرانی چارو سره خاصه علاقه درلوده هغه د لغمان ښار ته ښکلی بڼه ورکړه، کلو او بانډو ته یې سرکونه وویستل ، که څه هم پدې کار کې د ستونزو سره مخامخ وه مګر هغه وکولای شو چې د خلکو په مرسته سرکونو پلونو ، پلچکونو او د نوي ښارد ابادولو چارې په پوره زحمت په مخ بوځي چې دلغمان خلک د هغه خدمتونه د قدر وړ بولي۰

وایي مخکې لدې چې حسن خان دلغمان ولایت ته راشي هغه دبغلان په ولایت کې والی وه، هلته یې هم دبغلان دنوي ښار تهداب او اساس ایښی وه نو کله چې دنوي ښار کارونه بشپړ شول ،والی امروکړ چې تمام دولتي دوایر دې نوي ښار ته انتقال شي ، مسولین والي ته راغلل اود ترانسپورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نشتوالي ستو نزه يې ور ته وړاندې کړه، هغه چې دا مشکل درک کړی وه نو ټولو کارمندانو ته
يې امروکړ چې د خپل دفترونو څخه يو ميز ،ياچوکۍ اويا کوم شی چې دوړلو امکان يې وي ،له
ځانه سره واخلي چې په همدې ترتيب حسن خان خپله چوکۍ په اوږه کړه اوبې له کوم
ترانسپورته د نورو مامورينو سره يو ځای د بغلان نوي ښار ته کوچ کشی وکړه٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځلورمه برخه



## په کليو کې ودونه او دودنه:

په کليو کې د ودونو رواجونه ډېر ستونزمن وه، د واده مراسموته د ډېر پخوا څخه تياری نيول کيده ،ځينې کورنيو به په ځوم ډېر باج او تاوانونه را وستل ، هغه يې مجبوروه چې دناوې لپاره ډول ډول جامې ،ګاڼې، زيور او ډېر نورمجللو تحايفوبرسيره دناوې نژدې خپلوانو ته نقدي او جنسي تحايف برابر کړي او همدارنګه په واده کې دسيمې خلکو ته ميلمستيا جوړه اودهغوی دخوشحالي لپاره سازيان راوبولي،چې دې او نورملا ماتونکو مصرفونو ډېرکله ځوم دژوند تر پايه پوروړی ساته٠

دکلي هلکان به د سازيانو په راتګ خوښی ځرګندوله ، يو بل به يې د واده دځای او د سازيانود ډلې نه خبر ول او ويل به يې چې نن شپه په بريا کوزکلي کې واده دی او دګلکي استا ديا ماجتي ، غلام ،پاينده اويا کومه بله هنري ډله بې واده ته رابللې ده ٠
سازيانو او ميلمنوته په کلي اويا هم د کلي ومخې ته مناسب ځای جوړوه چې ټغرونه او کټونه به پکې پرا ته اود ګيسونـوپه ذريعه به روښانه کيده ، سندرغاړو به په وار سره ارمونيه ترغاړې کړه او خوږې سندرې او نغمې به يې ميلمنو ته اوروليې، موظف کسانوبه چای،چلم او اوبه ګرځولې ، دسيل سيمه به دچلمونو او سګرټو په دودونو لړلې وه٠

په لغمان کې محلي سازيان ډېر وه چې دهغوی د جملې څخه يو هم استاد ګل محمد وه چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلکي مشهوروه ،هغه به په سندرو کې د مستو بګتیو ،غزلو، مصرو ، او ځلوریزو تر ځنګ ډیر په زړه پورې داستانونه او دیني قصې کولې،ښه کمپوز ، خوږې نغمې او سرودونه به یې غږول، کله کله به یې د خپل ځوی پاینده محمد سره چې په پاینده مشهور وه په سندرو کې فلبدیهه شعرونه په خوږونغموکې اورول اوشعري مقابله به یې کوله،همداوجه وه چې د عوامو خلکو ډیر خوښیده٠

پاینده هم خوږ اواز درلود او ښه هارمونیه یې غږوله چې ورسته بیا په یو ترافیکی پیښه کې ومړ او ګل محمد استاد تر ډیره وخته دخپل ځوی په غم کې غمجن پاته شو٠

په لغمان کې د مشهورو محلي هنرمندانو له جملې څخه د استاد ګل محمد او پاینده ترڅنګ ډیر نورخوږ ژبي سندرغاړی لکه منګل استاد ، ماجتي استاد ، غلام محمد چې په غلامي مشهور وه، ملا ، ملنګ باغبان ،عاشق ملا شاګل ، زیړګل او ډیر نور وه چې په محفلونو کې د ملنګ جان، بهایي جان، او د لغمان د شاعرانو لکه علینګاری استاد ، محمد نور، د ګلکاریو بسملا ، اشکار ،حنان ، شهید ارمان، عمرزی وال ، ګوجوال ، فقیر سید بها الدین جان او نورو شاعرانو شعرونه په خوږونغموکې کمپوزاوپه خپلوخوږواوازونو کې خلکو ته اورول٠

په همدې ډول ساز به تر سبا مازیګر دوام درلود ،مازیګر به ځوانانو ډولۍ به په اوږه کړه ،ځوم یا شاه به د ډولۍ ومخې ته او نورمیلمانه او دکلي خلک به د سازیانو د ساز په بدرګه د ډولۍ تر شا ه د ناوې د راوستلو په مقصد روان شول٠

کله چې به د ناوې کلي یا کورته ورسیدل هلته به د نکاح لپاره د کلو مشران ، سپین ګیري ، ملکانو ، دینی علما ، دجومات امام او نوربا نفوذه اشخاص په یوه خاص اومناسب ځا ی یا حجره کې سره راټول اوشرعي نکاح به دجومات دملاصاحب له خوا وتړله شوه چې پس له حجاب اوقبول څخه ځوم اودځوم خپلوانو ته د نکاح مبارکي ویل کیده او د نکاح خواږه به په خلکو تقسیم کړل شول٠

تر نکاح وروسته به سازیانو بیا یوه پنجه مست ساز وکړ اوبیا به ځوم د خسر په کور کې د نوربوج او رواجونو سره پنجه نرموله، هغه داسې چې دکلي نایي ، ترکاڼ ، زرګر ، پښ، ګلکار ،اشپز او نورو به په وار سره دځوم ومخې ته کیناستل اوخپله حقداري به یې ځیني غوښتله او ځوم مجبوره وه چې داسیالۍ ترسره کړي او دهر یو سره حقداري او څه نقدې پیسې ورته ورکړي٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له هغه به ځوم د ناوې خونې ته بيول کيده ، دناوې خونه چې دناوې دخورلڼو ،ښځو او ماشومانو څخه ډکه وه مخکې لدې څخه چې ځوم دناوې خونې ته ننوځي د نجونو لخوا به د ناوې دخونې ورپورې ساتل کيده چې ورسته دځوشيبو څخه ځوم نجنوته دشيرنې يانقدو پيسو په ورکولو سره د ناوې دخونې ور پرا نيسته او ځوم ته به د راتګ اجازه ورکړل شوه ، د ځوم په راتګ سره به په هغه باندې چاکليټ ، نقل ،پتاسې او نورې پيسې له هرې خوا شيندل کيدې چې په خونه کې به سمدم غوغا جوړه شوه اوهرچا هڅه کوله چې ځانله په دې چور کې څه ترلاسه کړي او ځوم ته به پس له ډيرې ګڼوډې دا موقعه پيدا شوه چې دناوې تر څنګ ځان ورسوي او دهغې سره يوځای ودريږي٠

بيا به دکلي نجونو اوښځوله چمبې يادا ريا سره اوازونه پورته کړل او په مستو سندرو او نڅا ګانو به يې محفل ته خوشحاله بڼه ورکوله چې په همدې ډول پس له ډيرو ټوټکو اوروا جونو به په خوشحالي سره ناوې ډولۍ ته بدرګه کيده او د ټوپکو او تفنګچو په ډزو سره په ډيرخوشحالي دځوم کورته راوستله ٠
دځوم په کور کې مخکې له دې چې ناوې د ډولۍ څخه کوزه کړی د ډولۍ و مخې ته به يې پسه اويا چرګ حلالوه او دناوې پښه به يې په وينو سره کوله چې وروسته له هغې به ناوې د ډولۍ څخه د کوزيدوا اجازه ترلاسه کړه٠
د ناوې په کوزيدلو سره به د واده لمړی اواساسي مراسم ختم او ځوم کولی شول چې وروسته له ډيرو جنجالونو او کړاونويو څه ارام وکړي،خو سره لدې هم دناوې دريمه ، تخت جمعي او په اومه کې دپلار کورته تګ بيا دومره دجنجال او تشويش خبره نه وه٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پینځمه برخه
# د نوي کال یاد نوروز میله:

د نوروز میله په لغمان کې لکه زموږ دهیواددنورو ولایاتو په شان په ډیرو شانداراو مراسموسره لما نځل کیدله ، د کلي هلکانو به هم په دی ورځ کې ځانګړي پروګرامونه درلودل، هغه داسې چې ټول به دکلي ومخې ته د ونودتازه ښاخونوسره چې د نوي کال په موسم کې نوی غوټۍ او پاڼې کړې وې راوتل او دکلي د هر کورد ورمخې ته دا ترانه په لوړاواز اورول ه :

ګـل ګـــل د نـــو روز
خدای دې درکې شتمن روز
د شتمـــن روز برخه راوړی

ددې ترانې په اوریدلو سره به دکور خاوند دکوره څخه څه خوراکي توکي لکه وریجې ،غوړي، پیاز اونورهغه مواد چې د پخلي لپاره پکاریدل هلکانو ته نذرانه کول ، چې په همدی ډول هلکان به دکلي ټولو کورونو ومخې ته ورتلل او په کافي اندازه دضرورت وړ مواد به یې تر لاسه کړل ۰

کـله چې به یې مواد را ټول کړل بیا به هلکانو بشــقابونه ، دیګ ، کاسې ، کفګیر ،غوړي ،مالګه او مسالې دخپلو کورونو څخه راوړل او په مناسب ځای کې به یې دپخلی تدابیر نیوه ۰

ورو سته له هغه به هرڅوک یو کار ته وګمارل شو ، چابه نغری جوړاوه چا به دسون لرګي برابرول ، څوک بـه په اشپزی بوخت شو ، چابه دناستی ځای برابراوه، او یوې ډلې به د تیګې اچولو مسابقه کوله او څوک به بیا دخپلې دتبعې ملګروسره په ګپ،شپ لګیاوه ۰

څو شیبې ورو سته به ډوډ ی تیاره شوه ،دسترخوان به هموار شواو هلکانو به په خوشحالي او خوندسره دنوی کال ډوډ ی یو ځای نوشجان کوله ۰

دنوي کال یادپسرلي په موسم کې هوا معتدله او د تفـــریح لپاره مناسبه وي ،دښتې او غر ونه ، باغ او باغچې شنې او سرسبزه ، دغرونو په لمنوکې غاټول او ډول ډول خود رویه ګلان شنه کیږ ي چې داموسم او طبیعت لغمان ته ځانګړې ښکلا او رنګ ور ببښي ۰

## دمهترلمک ع لمړنۍ ښوونځی:

محترمو لوستونکو !

کله چې مونږ دحیدر خانیو د کلیوالي ښوونځی څخه فارغ شوو ، ورسته دمهترلمک په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړنۍ ښوونځی کې چې دده زیارت دکلي په جومات کې یې موقعت درلود شامل شوو ،دا ښوونځی زموږ
د کلي څخه تقریبا لس کیلومتره لرې پرته وه چې موږ به هره ورځ دې ښوونځی ته پلې ورتلو چې دا و اتڼ په اوله کې ستړی کیدونکی وه خو بله چاره نه وه ، دکورنۍ غو ښتنه داوه په هر ډول چې وي موږ بایدد درس او تعلیم نه بې بهرې پاته نه شو ۰

څه موده وروسته د مهترلمک لمړنۍ ښونځی د ده زیارت د جومات څخه خپل اصلی ځای ته چې نوی یې دجوړیدوچارې بشپړې شوې وې او دزیارت دکلي په جنوب شرق او یو کیلو متری کې موقعت درلود انتقال شو ه ۰

دمهترلمک په لمړنۍ ښوونځی کې زموږ تمام همصنفیان په څلورم ټولګي کې شامل شول، داښوونځی دعمرزیو ،چاردهي دسیمو او دلغمان د ولایت په مرکز یت کې موقعت درلو د چې پوه او مجرب استادان یې در لودل ، دهغو د جملو څخه ښاغلی استاد علینګاری چې ډیر با احساسه شاعر هم وه، ښاغلی استاد عظیم خان چې د ریاضی استاد وه، ښاغلی مولوی صاحب فضل الرحمان خان، ښاغلی حسین خان چې په بزرګ مشهوروه، ښاغلی خواجه محمد خان ، ښاغلی ستارخان ښاغلی سر معلم صاحب حبیبالله خان ، ښاغلی محمد اجان، ښاغلی سرمعلم صــاحب غفورخان ښاغلی محی الدین خان او ډیر نور ښاغلي او د قدرو ړ استادان وه چې د هغوی له برکته ډیر شاګردان د پوهې او تعلیم لوړو مدارجو ته ورسیدل، او د وطن پرستي او پوهې په لباس سمبال ټولنې ته وړاندې کړل شول۰

لکه څنګه چې مخکې مو د ښاغلي علینګاري صاحب او د هغه د شاعرۍ په اړه یادونه وکړه لازمه ګنم چې دهغه دشاعرۍ په اړه څو کرښې اضافه کړم ۰ د استاد الینګاري اکثر اشعار د خوږ ژبی هنر مند پاینده او نوروسندر غاړوله خوا کمپوز شوی دی، برسیره پردې علینګاري صاحب زموږ دښوونځی دهنراوکلتورپه برخه کې پوره همکاري درلوده، په ښوونځی کې د قلمی دیوالي
جریدې او همدارنګه په ښونځی کې دترانې د ټیم فعالول او نور علمي او فرهنګي پرګرامونو په مخ بیولو کې خاصه ونډه درلوده، دښوونځی دترانې ټیم هر سهار په شاګردانو تمرین کیده چې د ښوونځی په مراسمو او دولایت په رسمي محافلو او تجلیلونو کې زموږ د ترانې ټیم خاص ځای درلود او ډیر ښه وطني ، با احساسه اشعار یې د ترانې تیم ته برابرول او شعرونه به یې په خپله لیکل چې دهغه له جملې څخه یوه ترانه چې څو بیته یې همدا اوس هم په ذهن کې راسره دي لیکم :

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان په پوهه کامل انسان شي
عقل يې سالم شي روح د جهان شي
شرف حاصل شي علم او ادب نه
نه چـــې د مال او ملکو نصب نه
علينګاری به ســـتا په فرمان شي
عقل يې سالم شي روح د جهان شي

زموږ د ښوونځی دترانې ټـيم ددې ترانې په اورولو سره په هغه محفل کې چې دروښان په ليسه کې جوړ شوی وه لمړی مقام تر لاسه کړ٠
زموږ لپاره د مهتر لمک لمړنۍ ښوونځی په زړه پورې په دې وه چې دلته دحيدر خانيو ددهاتې ښوونځی په پرتله هر څه مرتب او منظم وه، درسي صنفونه ، منـــظم تقسيم اوقات ، دهر مضمون لپاره مشخص استاد ، د ښونځی ادا ره اونور هر څه نوي وه٠د ښونځی سيمه به هره ورځ د ښوونځی د ملازمينو په واسطه پاکه او اب پاشي کيدله ، شاګردان مجبور وه چې په ټاکلي وخت درس ته راشي او د ښوونځی نظم او مقررات مراعت کړي، که څوک به بې موجبه ناوخته ښونځی ته راغی او يا کومه بله بې دسپلـينی به يې وکړه ، هغه ته به د ادارې له خوا جزا ور کول کيده٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږمه برخه

## د روښان لیسه

درنو لوستونکو !

موږ د مهترلمک په ښوونځی کې ترشپږم ټولګي پورې درس او تعلیم وکړ، کله چې د شپږم ټولګي څخه فارغ او شهادت نامې موترلاسه کړې نو د زده کړې د ادامې په مقصد زموږ ټول اسناد او سوابق د مهترلمک د لمړنۍ ښوونځی د اداري له خوا روښان لیسې ته ولیږدول شول او هلته په اوم ټولګي کې شامل او د نورو نویو استادانو او همصنفیانو سره اشنا شولو ۰

د روښان لیسه چې په هغه وخت کې په لغمان کې یوا ځینۍ لیسه وه د مهترلام د ښار په مرکز کې یې موقعت درلود چې دډیرولرې ځایونو څخه لکه دالیشنګ اوالینګاردولسوالیو ، شمنګل

،عمرزایي ،چهاردهي ، دقرغیو ولسوالۍ ، مندروړ اونورو ولسوالیو ، علاقه داریو دکلیو اوبانډو څخه ورته زده کوونکي د درس او تعلیم لپاره راتلل ، چې ورسته بیا د زده کوونکو دمشکلاتو په نظرکې نیولوسره په سنګره ، قرغیو ،او مندروړ کې نورې لیسې جوړې شوې چې ددې لیسو په جوړیدلو سره د شاګردانو ستونزې نسبي کمې او هرچا کولی شو چې په خپلو نژدې سیموکې خپل زده کړې اوتعلیم ته ادامه ورکړي۰اکثرا شاګردان ښوونځی ته پلی یا په بایسکل راتلل،د ترانسپورت امکانات ډیر لږو خلکوته میسر وه ۰
دروښان لیسه ډیره پخوانۍ لیسه ده چې تعلیمی سویه یې دمجربو استادانو په لرلو سره ډیره لوړه وه اوډیر فارغان یې لوړ دولتي او علمي مدارجو او منصبونو ته رسیدلي دي۰
پدې لیسه کې ډیر زده کوونکي په تعلیم بوخت وه ، هرې دوره یې درې یا څلور ټولګي درلودل د مثال په توګه د اوم ټولګي به داوم الف، بې ،جیم او یا اوم دال په نامه یادید ل ۰

د روښان لیسه د حیدر خانیو دکلیوالي او دمهترلمک دلمړني ښونځیو په پرتله ډیر توپیر درلود ، صنفونه نسبی مجهز وه ، په هر صنف کې دټغرونو په ځای میز اوچوکی وې، زده کوونکي به په منظم وخت په دریشۍ کې ښوونځی ته راتلل،په ښوونځی کې ملي او نړیوالي ورځې لکه د د ښوونکی ، آزادی ، د مور او نورو تاریخی ورځو لما نځنه کیده ،ښکلي ډرامې به جوړیدلې چې شاګر دانو او استادانو به پکې فعاله ونډه درلوده ۰ دروښان لیسې استادان هریو ښاغلی عظیم خان ، ښاغلی مولوی صاحب طاهر خان چې په خطیب مولوی مشهور وه، ښاغلی ستار خان ، ښاغلی متین خان ، ښاغلی خانګل خان ، ښاغلی ضیاو الحق

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان ښاغلی عبدالرزاق خان او ډیر نور د قدرور استادان وه چې همیشه یې د شاگردانو سره په درسي مشکلاتو کې مرسته او همکاري لرله.

سیاسي کړنې او گوندي فعالیتونه:

درنو لوستونکو !

کله چې موږ به د ښوونځي څخه رخصت شو ، نو زده کوونکي به ډلې ډلې د کور په لور روان شول او په لاره کې به ديني ، علمي ، سیاسي او اجتماعي بحثونه کیدل.
د شاگردانو یوې ډلې به د درسونو په برخه کې یو د بل سره مرسته کوله ، په ځانگړې توگه دلوړو ټولگیو زده کوونکو د اوم او اتم ټولگیو د زده کوونکو سره.

بلې ډلې به علمي او فلسفي بحثونه کول او یو شمیر نورو به بیا سیاسي بحثونه کول چې د مشخصې
موضوعگیرۍ یا ایډیالوژۍ لپاره یې کار کاوه ، هغو به د کلو ، بانډو ، ولایاتو ، مملکت او په سیمه کې د خلکو حکومتونو او سیاستونو په اړه خپل نظر ځرگنداوه ، چې اکثرا دا بحثونه په هیواد او نړۍ په کچه د فقر ، بدبختۍ او بیعدالتۍ په مدار څرخیدل.
یوې ډلې به د یوې سیاسي ایډولوژي څخه او بلې به بیا د بل سیاسي دریز او موضوعگیرۍ څخه دفاع کوله. ددې حالت څخه داسې معلومیده چې مختلفو پا رټیو او گوندونو د ځوانانو په مینځ کې د خپلو صفوفو د تقویې په مقصد کار شروع کړی وه.

دا بحثونه په زړه پورې په دې وه چې هر ډلې به په هیواد کې د بدبختیو عوامل په مختلفو نظرونو تحلیلونو او د یدگاهو کې ځیړل او ځوانان یې په هیواد کې د یوې عادلانه ټولنې د مینځ ته راتگ په مقصد مبارزې ته را بلل او په همدې ډول به یې د خپلو علاقې وړ پارټۍ او تنظیمونو کې تنظیمول.
ځینو بیا د اسلام مقدس دین ته د خدمت په منظور او په وطن کې د اسلامي اصولو د تدبیق په مقصد خلک جهاد ته را بلل او ددې ټولو بد بختیو اصلي لامل یې اسلامي اصولو د نه مراعت کیدو دلیل باله او خلک یې ددې مقدس هدف د عملي کولو په مقصد په اسلامي لیکو کې تنظیمول او کفر سره یې د جهاد نارې پورته کړې وې.

ځینو نورو بیا د مارکس او انگلز د ایډولوژۍ طرفداران وه چې هغوی ددې بدبختیو اصلي لاملونه په وطن کې د طبقاتي ژوند موجودیت باله او داسې یې تحلیل کاوه چې موږ باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيربنا يا اساس ته تغير ورکړو، او په وطن کې د عادلا نه او انساني ټولنې د راوستلو لپاره کار وکړو او د همدې هدف لپاره يې خلک طبقاتي مبارزې ته د صلح اميزه لارې رابلل٠

ځينو نورو بيا د مارکسيستي سياست په تايدولو سره د قهر اميز سياست ترفدار و چې د مايوستانو په نامه ياديدل، بلې ډلې بيا د دې ټولو بدبختيو عامل د افغانانو په عدم اتحاد کې څرګنداوه او د ټول افغان ملت يووالى او ديو موټي افـــغانستان د جوړولو ادعا يې کوله او خلک يې اتحاد او اتفاق ته رابلل٠
پــــه همدې ډول هرسبا او ماسپښين د ښوونځى په لاره کې مورږ د داسې بحثونو سره سر او کار درلود چې کله کله به دا بحثونو د ومره مصروف ساتلو چې دا لس، يولس کيلو متره منزل به را ته ډير ذغرده شو او ستړيا به مو لږه احساسوله٠

په همدې ډول په لغمان او د هيواد په نورو ولاياتو کې د خلکو د پاکو او سپيڅلو ،ملي ،وطني ،اسلامي او انساني احساساتو په ګټه اخستلو سره د سياسي پارټيو صفوف ورځ په ورځ تقويه او په هيواد کې د ډلو، ټپلو، تنظيمونو او ګوندونو لپاره تهداب ايښودل کيده چې ديو واحد وطن، ديـــن او ايين خلک يې په مختلفو ګروپونو پارټيو او تنظيمونو تقسيم او دنفاق او بـــد بختي کندې ته ګذار کړل، چې ورسته بيا د دې فعاليـــتونو نتيجه زمورږ هيواد والو په خپل سر سترګو وليده او احساس يې کړه٠

خورږ ژبى سندر غاړى مرحوم ماجتي
غواړم په دې برخه کې د خورږ ژبي محلي سندرغاړي مرحوم ماجتي چې د لغمـــان د چاردهي په سيمه کې يې هستوګنه درلوده، د هغه د شخصي ژوند په هکله ستاسو توجه راوګرځوم:

ماجتي چې هميشه يې پاکې جامې په تن اود پالاوى لنګى شمله به يې نيغه دروله د موسيقي دډير الاتو لکه هارمونيه، اکارديون، ماندولين ،ګيتار،وايلون ،شپيلى يا فلوت ،تنبور او نورسره پوره اشنايي او مهارت درلوده چې هميشه به د دغو الاتو د جملې څخه يو ورسره ليدل کيده٠
ماجتي هميشه د خوښيو په محفلونو کې خورږې سندرې کولې چې اکثره سندرې يې د مينې او محبت سندرې وې چې په ډېر سوز او ګداز به يې ويلې٠
له سندرو څخه يې داسې معلوميده چې هغه به چيرې زړه بايللى وي، او د چاپه پټه مينه کې سوزيږي او همدې مينې دى شاعري ته هڅولى دى، چې په حقيقت کې همداسې هم وه٠ هغه به د خپلې پټې مينې اظهار په سندرو کې داسې کوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مین چې شو مه په ګل ببو
ستي يې کړمه په سرو لمبو

په رښتیا سره د ګل ببو میني ماجتي ډیر زوراوه، د هغه دا سندره ډیره مشهوره شوه ، چې ور سته بیا په کابل راديو کې چې په هيواد کې يوا ځینۍ راديو وه ثبته شوې وه او همیشه به د راديو له لارې اوریدل کیده٠ ماجتي ورسته ددې کړاونو په نتیجه کې په نا علاجه رنځ اخته شو چې دا نا علاجه مریضی د نری رنځ مریضې وه چې هغه یې د مرګ او نابودۍ لوري ته بیوه٠ داسې رنځ چې د علاج چاره یې نه وه ، هسې چې ورته لازمه وه دمعا لجې او تداو ي امکان يې نه وه برابر ، ماجتي هم دخپل را تلونکي په هکله ښه پوهیده ،هغه په یوه بله سندره کې چې شعريې خپل وه داسې ویل:

افسوس افسوس ځما په حال چې مې ارمان پاته شو
لکه دګل په شان نازک مخ د جانان پاته شو

د ځنکدن اخرسلګۍ دي ترماراشه اشنا
دا دواړه سترګې مې نيولي ستا ديدن لپاره
د رقيبانو په لمسون شولې له ما کناره
په اخرت کې زما لاس ستا په ګريبان پاته شو
لکه د ګل په شان نازک مخ د جانان پاته شو

زنې مې وتړه په لاس دا زمادی وصیت
راباندې وايه ځو کرته کلمه دشهادت
روح مې دا ستا په انتظاردی رانه غواړي رخصت
زما په زړه کې دا داغونه د هجران پاته شو
لکه دګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو

دجنازی کټ ته مې چیغه کړه چې لاړی اشنا
سبا دوخته په مزارکې راته وکړه دوعا
زما په شناختې باندې وکړه دزړګي تسلا
زماد قبرخاوري تاته يو نشان پاته شو
لکه د ګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو

داستا دسترګو په ګولۍ زړګی زما شو قلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسترګو اوښکی تویومه سات په سات دم په دم
که راتــه راکړې دوایــي دسرولبانو ملهم
د ماجتــي ځینې اخر دغه جهــان پاته شو
لکه دګل په شان نازک مخ دجانان پاته شو

دا سندره زموږ په کلیو او بانډو کې ډیره مشهوره شوې وه او ورسته ماجتي دا سندره هم په کابل رادیو کې ثبته کړه چې اکثرا د رادیو له لارې اوریدل کیده.
ماجتي د نری رنځ په نتیجه کې په ځوانه ځوانی کې ورو ورو خپله روغتیا او صحي حالت له لاسه ورکاوه، د هغه څخه په یو محفل کې چــا پوښتنه وکړه چې استاذه ! صحت مو څنګه دی ؟
هغه په ځواب کې ورته وویل : چې نه مړ یم نه ژوندی ،خو بیا هم کوشش کوم ستا ســو دخوښۍ لپاره څو سندرې درته ووایم او د خـــپل د زړه خواله تاسو سره په سندرو کې وکړم.
په رښتیا سره ماجتي خوږ او دمیني ډک اوازدرلود چې دبده مرغه د ژوند کړاونو هغه ته نورموقع ور نه کړه چې دهنرپه هکله څونور ګامونه پورته کړي، او دخپلې مینې او ارمانو غوټۍ یې خلاصې شي.
ماجتي د نري رنځ په نتیجه کې ومړ ،د هغه مینه وال د هغه جنازې تــه ډیر راغلي وه دهغه جنازه یې د چهاردهې د شاه ګذر بابا په جګې غونډۍ کې خاورو تــه ورسپارله ، نوکله چې خلک د جنازه څخه راوګرځیدل،کلي تــه درسیدو سره سم د هغه دا سندره چې :
افسوس افسوس ځما په حال چې مې ارمان پاته شو
لکه دګل په ښان نازک مخ د جــانان پــــاته شو

په هماغه شیبه د رادیوله لارې خپره شوه، خلکو له لرې څخه ددې سندرې په اورید لو نور هــم غمجن شول او دحسرت او تا ثر اوښکې یې تر سترګو تویې شوې، او مرحوم ماجتي یې دخپلو هیلو او ارمانونو سره یوځای خاورو ته سپارلی وه، خدای دې وبښی او روح دې ښاد او آرام وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اومه برخه
# حشر یا مشترک کارونه

حشر یا مشترک کارونه په سیموکې د بیالوپه پاکولو د سربندونو په جوړولو ، د شولو د بزغلیوپه کرلو ، د سرکونو اولویو لارو په جوړولو او همدا رنګه په کلیو او باندو کې د بامونو د کاګلولو ، د کروندې د محصولاتو په راټولولو ، په مړې او ژوندې او ډیر نورو هغه کارونو کې چې د کلیو د اوسیدونکو په شریکه همکارې په یوټاکلې ورځ اویومعلوم پروګرام سرته رسیږي،چې دا شریکې مرستې یاحشر د کلیو د اوسیدونکو اویا هم کله ددولتې اورګانونو په غوښتنه ترسره کیږي.

په لغمان کې د چاردهي د سیمې لویه بیاله چې د بي بي حاحب د زیارت په ساحه کې د الیشنګ د سیند څخه سرچینه اخلې او د راه دار یا سخي پله څخه ورسته دچاردهي د سیمې دمځکو د خړاوبه کولو او په ورځینې ژوند کې دخلکو دګټې په اخستلو کې موهم اوحیاتي رول لري.
ددې اونورولویو بیالو د اوبودعادلانه ویش او دګټې اخستلو په موخه هرکال نوی میراو یادبیالې مسول ټاکل کیږي.
ټاکل شوی میراو دنده لرې چې د بیالې ، بندونواوسربندونو د جوړول اودهغو د فعالیت څخه تل با خبره وې او د اوبو عادلانه ویش په نظر کې وساتې که نه نو د بې خبره اوبې انصافه میراو دکارپه پایله کې دکلو د اوسیدونکو دنفاق اوشخړولامل ګرځې چې داشخړې او ستونزې کله بیا په مرګ، ژوبلې او د سرونو په ماتیدوهم ختمیږي.

په لغمان کې دګرمیو په موسم کې دلوړوغرونو واورې اوبه کیږې او په همدې موسم کې ډیر ی وختونه ګلۍ ،بارانونه ، تالنده اوبریښنا د سیلابونودراوتلو لامل ګرځې چې په ځینو وختونو کې د مالې او ځانې تاوانونو تر څنګ د فصلونو د خرابیدوسبب هم ګرځې.
داسیلابونه د دریابونو اصلې مسیرونه بد لوي ، لوې لوې ونې او کمرونه چپه کوي ، کورونه او
څاروي له ځانه سره په مخه کوي.
څرنګه چې سیلابونه دوچو دښتواو خوړونو څخه تیریږي چې شګې ، خاورې او بوټې له ځانه سره لیږدوي چې دا خړ سیلابونه د دې سبب ګرځې چې د سیندنوپه استقامت لوی سربندونه ویجاړ او بیالې د خاورواوختو په کیناستلوسره ډکې کړي چې د اوبو دبهیدو کمیت په بیالو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې کموي، په همدې د لیل کلیوال هر کال دبیالو دبیا پاکولو او د سر بندونو د بیاجوړولو په تکل شریک کار یا حشر تر سره کوی۰

څه وروسته کله چې دالیشنګ د سیند د اوبو سر چینې یادغرونو د لوړو څوکو واورې د ګرمي د زیاتیدو له امله اوبه شي نو د سینداوبه هم ورو ورو کمیږي چې وروسته بیا په دې لوی سیند کې دیوې بیالې په اندازه هم اوبه نه وي ، په همدې دلیل د چاردهي د سیمې خلک مجبوردي چې د خپل د اړتیا وړ اوبه د الینګار د سیند څخه چې همیشه یې اوبه ډیرې وي استفاده وکړي هغه د اسې چې د الینګار د سیند څخه یوه بیاله دالینګار دهمدې د رې په غربی برخه کې دغونډیو له پاسه چې ډیر له پخوا نه کیندل شوې ده د چاردهي د سیمې په شرو ع کی د الیشنګ دسیند سره یوځای کیږي همدا بیاله هر کال د چاردهی د سیمې او سیدونکـي د سر بند څخه ترمیم او پاکوي او د اوبو د نشتوالي ستونزه په اوړي کې د حشرونو په سرته رسولو سره حلوي۰

شفیع ماما یا دکلی نائي
زموږ دکلی نائي محمد شفیع نومیده ،هغه به د کلي داو سیدونکو او هلکانو د سر ویښتان ور اصلاح کول۰
دکلي هلکانو دلنډو ویښتانو سره دومره لیوالتیانه ښودله خومشران داوږدو
اولویو ویښتانو طرفدار نه وه ، هلکان یې مجبورل چې د سر ویښتان لنډ کړي خو سره له دې نائي به د هلکانو ویښته برابر او ښایسته جوړول، هغه به نه هلکان او نه مشران خپه کول۰

شفیع ماما به دکلیو هلکانو او اوسیدونکو خبر په میاشت کې یو ځل اخیسته او د سر ویښتان به یې ورته اصلاح کول چې په اوجوره کې به یې د فصلونو د لوګډ په موسم کې په کروندو ګرځیده او خپله برخه د لو شوي فصل صدرۍ یا ګیډۍ تر لا سه کوله او وروسـته بیا ددرمند دتللو په وخت کې هم نائي ته برخه بیلیدله۰

لکه څنګه چې مووویل شفیع ماما تنها زموږ دکلي نائي نه بلکه دچاردهي دنورو کلیو اوبانډو اوسیدونکو نائي هم وه چې د فصلونو د لوګډ په موسم کې به د ډیرو غلو دانو څخه برخه مند وه، هغه به تل په کلو او بانډو ګرځیده او په سیمه کې به د ټولو پیښو څخه با خبره وه نو په کلیو کې چـې به کومه د خوښي ، مړي یا ژوندی خبره وه هغه دنده درلوده چـې خلک خبرکړي ۰

د روژی مبارکه میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د روژی په مبارکه میاشت کې د کلي سپین ږیري، ځوانانو او هلکانو ټول د روژه ماتې لپا ره د کلي جومات ته راتلل، روژه ماتی، خیرات یا نذر به یې له ځانه سره جومات ته راوړه ، د جومات ومخې ته د ماښام د لمانځه د اذان څخه څو شیبې دمخه د کلي هلکان او ماشومان را ټولیدل ،نو کله چې به ملا صاحب د الله اکبر اواز پوره کړ، ټول ماشومان به د کلي په کو څو کې په لوړ اواز ویل ، روژه ماته کړی د روژه ماتې اذان وشو چې په همدې ډول به ماشومانو او هلکانو د کورنیو روژه دارانو ته خبر ورکاوه تر څو هغوي په اطمینان سره خپله روژه ماته کړی ۰

د کلي اوسیدونکي د ماسختن د تراویح لمونځونو ته هرو مرو راتلل د تراویح لمونځ زموږ له پاره ډیر په زړه پورې وه، هلکان به حتمي لمانځه ته راتلل خو تعامل دا وه چې هلکان به د لمانځه
په وخت کې د جمعې په ورستې صف کې دریدل۰
هلکان به روژه نیولو ته هوسیدلو چې د جومات ملا او د کلی سپین ږیرو تشویقول او ویل به یې چې په دې عمر کې روژه نیول ډیر ثواب لري او خدای پاک یې تاسو ته اجر درکوي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتمه برخه

## لغمانۍ اوګره اود هغې ډولونه :

لغمانۍ اوګرې ،د پخولو ترتیب او د هغه ډولونو په اړه ښاغلي نجم الدین سعیدي په زړه پورې مطالب راټول کړي چې د سعیدي صیب لیکنې ته بې له تصرفه په دې برخه کې ځای ورکړ شوی دی ،هیله مندیم چې ددرنو لوستونکو د پاملرنې وړوګرځي ٠

د پخولو ترتیب:

اوګره او د هغه د پخولو ترتیب ډیر ساده او اسان دی هغه داسې چې غنې وریجې دګرمو اوبو سره پاکې پریمنځې کله چې وریجې بریمنځل شوې په ایشیدلو اوبو کې یې تر هغه ویشوي چې نرمې شي چې دغه نرمې شوې غنې وریجې داوګرې په نامه یادوي چې په لاندې مختلفو ډولونو ترې ګټه اخیستل کیږي ٠

لمړی- اوګره دکرتو سره:

کله چې اوګره پخه شي هغه په نا شکن یا عادي غوري کې را باسي او د غوري په مینځ کې ښکلې ځرخنې ورته جوړوي او پدې ځرخنې کې سولول شوي کرت چې مخکې یې په کرتمال کې سولولي وي ځایوي او بیا زیر غوړي ، واز ده یاعادي غوړي په ارکاره کې ښه سره کوي او په ځرخنې کې د سولول شوو کروتوله پاسه اچوي ،ورسته بیاپه غوري کې د اوګرې له پاسه سابه، شلغم ، پخه شوې وچه غوښه د لوبیا سره په ښکلې نظم ځا یوي او د دسترخوان په سر یې ګدي چې د تعامل سره سم هرغوري د دوو څخه تر درې کسانو لپاره او که د کورنیو اویا دمیلمنو شمیر ډیروي په همغه اندازه د غوریو شمیر هم ورزیاتوي ٠

کله کله په اخر کې د اوګرې ځرخنی ورانوي او کرت او اوګره ګډوی چې هغه ګډه شوې کرت او اوګره بیاځانله خونداوطعم لري ٠

دوم- اوګره دکنډ یا دغوا د عادي شیدو سره:

کنډ :هغه شیـدې دي چې غوا یې نوی خوسکی زیږو لی وي، پدې ډول اوګره کې په ځرخنې کې کنډ یا شیدې ځایو ي اوکله کله سره شوي غـوړي هم دپاسه پرې اچوي ٠

دریم -اوګره د مستو یا شړمبو سر :

دا هم دهمغې اوګرې یوه بله نمونه ده چې په ځرخنې کې یې مستې ځایو ي٠

دشړومبو سره اوګره په شړومبه کې ګډوي او د نوش پیاز یا عادي پیاز سره ترې استفاده کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

.
شړومبې او اوګره د لغمان په چارباغ کې ډیررواج لري ، ددې سیمې خلک د شپې له خوا اوګره پخوي او د شړومبو سره یې ښه ګډوي ورسته د دې ګډې شوې اوګرې سرور پټوي او د بیالې ترغاړې یې د اوبو په سرګدي او د سهار له خوا ټــوله کورنۍ په دسترخوان سر راټولیږي اویوځای ترې استفاده کوي ۰

څلورم - اوګره د لاونډ سره:
لاونډ یا )کړو (یو مخصوص تعم دی چې د شړومبو څخه یې جوړوي هغه داسې چې د مستو شړمبه په یو ظرف کې اچوي او یو اندازه اوړه ورسره ګډوي ترڅو اوړه په شړومبه کې ښه حل شي او په نغري یې ګدي ترڅو ښه وایشول شي پس له هغه په ارکاره کې څه میده شوي پیاز په غوړیو کې سره کوي او په ایشل شوي شړمبه کې چې اوړه په کې حل شوې ورزیاتوي او د څمڅۍ سره یې نور هم خلتوي چې پــس له یو معین حرارت څخه خوندورلاونډیا )کړو (ترې جوړیږي چې دالاونډ د اوګرې په څرخني کې ځایو ي اوکله کله د سره شوي غوړي هم د پاسه پرې اچوي او په خوند او مزې سره ترې استفاده کوي ۰

پنځم -شوله:
شوله دغټو وریجو څخه جوړیـږي ، هغه داسې چې اول په غوړیو کې څه پیاز سره کوي او ورسته څه اوبه یا د پخې شوې غوښې ښوروا پکې ور زیاتوي کله چې داښوروا وخوټیدله پریمځل شوې غټې وریجې پکې اچوي چی پس له معین حرارت څخه ورته دم ورکوي او پس له هغه وازده په ارکــارۍ کــې سره کوي او د شولې د پاسه یې اضافه کوي چی خوندوره شوله تری جوړیږي ۰
د اوګرې یو بل قسم سبوناکه ده چې په شوله کې سابه ورګډوي او د سبوناکې به نامه خوندوره شوله تری جوړیږي چې د هغه د پاسه هم د وازدې یا غوړیو جغ باسي ۰

د اوګرې نوراقسام زموږ د ګران هیو ادو په نــور ولایاتو کې هم مروج دی لکه د پکتیا او خوست په مناتقو کې چــې د ډنډکي په نامه یې یادوي او پخول یې د لغمانۍ اوګرې سره فرق لــري ۰ همدارنګه د کابل په شمال کې لکه ګلدره ، شکردره اوغوربند کــې چې د شولې غوربندي په نامه یادیږي په هغه کې کوفته ، لوبیااوترخه مرچ ورګډوي۰

باید وویل شي دغټو وریجو رواج دشرقي هند وچین څخه افغانستان ته انتقال شوی چې د پخولو ترتیب یې د نورو هیوادو سره توپیر لري ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لغمان کې داوګرې يا غټوو ريجو د استفادې ترڅنګ دمينو وريجو څخه چې د سرده دريدونې او يا ګرمه وريجو په نامه يې يادوي هم استفاده کيږي او دلغمان په مختلفو سيمو کې لکه د اليشنګ او الينګار په درو کې ، د چاردهي ، حيدر خاني ، ماشه خيل مندروړ ، قرغيو او ډيرونورو ځايوکې کرل کيږي .
لغمانۍ وريجې زموږ په وطن کې خاص شهرت لري او د هغه څـخه خوندور پلو ، دمپخت ، شکربټه او قابلي پلو پخوي چې زموږ د هيوادوالو دسترخوان ته ځانګړی خوند او رنګ ورکوي .

## تير يادونه

خـړ سيندونه سيلابونـه مـې يادېږي
د وطن شنه شنــه فصلونه مې يـادېږي

د ودونــو او دودونـــو رواجــونــو
ها ديرې ها مـجـلسونــه مــې يادېږي

سندريزخوږې نغمې د حجرو مينځ کې
ها ګــيسونــه او کــټونـه مې يادېږي

د مــرغيوګــنه ګــونـه او سيـــلونه
د چق مق ټوپــک غږونه مـــې يادېږي

د قزلاقو اويارمخـــچو پـــه موسم کې
د دامان د غره دامــونــه مــې يادېږي

په جوزا کــې د تـوتانـو په موسم کې
د فــصـــلونو درمنـدونـه مې يادېږي

مصلـــې اوددرمند شاخې په لاس کې
تورچنګړلوی لوی چجونه مې يادېږي

د دهقان په لاس چې تيګه دميزان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپکۍ او خجورونه مې یادیږي

د چینی نه د اوبو منګی په سر کې
ها د پیغلو کتارونه مې یادیږي

مړ او بل داوربلکو الوتنې
د بامو د سر خوبونه مې یادیږي

په اختر کې د ځوانانو ډلې ډلې
ها میلې او اتڼونه مې یادیږي

د پی مخو ښکلو پیغلو بیر او بار کې
هغه لوی لوی زیارتونه مې یادیږي

رنګ په رنګ ښکلې جامې د طاعتونو
په مسجد کې ښه وعذونه مې یادیږي

څومره ښکلې څه ښایسته کلي باندې دي
جم او جوش دبازارونو مې یادیږي

یادول یې زیاتوي د زړه دردونه
افغاني ها تیر وختونه مې یادیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نهمه برخه
# په لغمان کې اوسيدونکي قامونه او پرګنې

درنو لوستونکو!

دکتور محمد سعيد «سعيد افغاني» په خپل کتاب کې چې )زما ژوند ( په نامه ياديږي او په کال ) 1365 ( هجري کې خپور شوی په لغمان کې اوسيدونکي قامونه او پرګنې په لاندې ډول شرحه او معرفي کړي دي:

اول: « ساپي »

په افغانستان کې د صافيو قوم يو لوی او مشهور قوم دی چې وايي ددوئ اول نيکه د قندهار دغوري مرغی څخه راغلي دي او ددوئ نسبي سلسله د پښتنو په قامونو کې په درانيو باندې ګډيږي، وايي صافي په غلجيو نه ګډيږي بلکه د غلجيو سره د درانيو په وسيله ورورګلوي لري .

دصافيو د قامونو غټې ريښې په لاندې ډول دي ٠

الف–ودير

ب-ګربز

ج–مسود

د « ساپيو » د قوم پرګني په ټول افغانستان کې خپرې دي خو دافغانستان په شمالي برخه کې ، کوه « ساپي » محمود راقي ، کو هستان ، او تګاب ددوئ اصلي او مهم مرکزونه دي ا و په مشرقي کې د کنړ « ساپيان » شهرت لري او هغه ځای دځوکۍ په لسوالۍ ، با ډ يل،مز ار ، دپيچ په دره ، د سر حد څخه اخوا په سره کمر او د کنر په نورو سيمو کې اوسيږي. ساپي به کامه کې لويه سيمه لري ، ساپي په لغمان کې دعمرزيو ، سالاب ، ګړګړ ،باړيځی ، صبر اباد ، په سيمو کې هستوګنه لري ، په الينګار کې نازي هم « سا پيان» دی ٠

وايي: چې په کوزه پښتونخوا کې وزير هم په اصل کې د ودير صافيو يوه ريښه او مسود يې بله ريښه ده ٠

دلغمان په عمرزيو کې صافيان په دري پلرونو تقسيم شويدي ٠

١- د خير محمد بابا اولاده ده چې د خير اباد کلی يې مرکز دی او لاندې ريشې لري٠

پايه خيل ، ياسين خيل ، تورخيل ، اياز ٠

٢- د عبدالمحمد بابا اولاده چې په ادو خيلو مشهور دي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دابراهیم باباچې په ابرهیم خیلویادیږي اوس په عمرزیي کې دخیر محمد بابا اولاده دیره ده خلک عاجز او په اقتصادي فشار مواجه دي، ولی دغه خلک ډیرزړه ور او په میړ انې شهرت لري.

دویم: د ساک ، سهاک:

دساک قوم د لغمان ولایت په مرکزي سیمو کې اوسیږي او ددوئ ریښې موسی خیل او شمشیر خیل دي اود افغانستان په نورو سیمو کې هم هستوګنه لري ۰

دریم - تره خیل:

دوئ د لغمان ولایت د تندیو په کلي کې اوسیږي او زیاتره یې دکابل شمال شرق خواته د ترخیلو په قریه کې هستوګنه لري چې ددوئ یو څو با اعتباره خلک د وخت ددربار قابچي باشیان وه او د پور اعتبار خاوندان کڼل کیدل ۰

څلورم: رستم خیل:

ددوئ څه میشته کورونه د لغمان د ارمل به قریه کې اوسیږي او څه نور یې کوچیان دي چې داوړي په موسم کې یخو سیموته ځي اوپه ژمي کې بیرته لغمان ته راځي،مالداري اوسودا ګري ددوئ کسب دی ۰

پنځم – خروټي:

دوئ دلغمان د عمرزیو د علاقې په جنوبي برخه او د افغانستان په نورو برخو کې اوسیږي او ډیر مشهور قام دی ۰

شپږم: عبدالرحیم زي :

دلغمان ولایت د مندروړ په سیمه کې اوسیږي او په کابل کې هم کورونه لري په دوئ کې ښه با همته خلک تیرشوي دي ۰

اوم -هودخیل:

دوئ په ودخیلو شهرت لري او د لغمان د قرغیو د ولسوالۍ په برخه کې لویه سیمه لري او پـــه کابل کې د کابل شرقي خوا ته اوسیږي.

اتم - جبار خیل:

دوئ دلغمان د قرغیو د ولسوالۍ په سیمه کې معزز کورنۍ دي. په دوئ کې د قامي ملي مشران اوتاریخي خلک تیر شویدي ۰

نهم - تره کي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوئ دلغمان دولايت په ځينو سيمو کې ميشته او کوچي کورونه لري او اوښانو او څارويو په روزنه مصروف دي او د افغانستا په غزني او قندهار کې شتون لري.

لسم - پشه ئي:

دوئ دلغمان ولايت تر څنګ يوه کلی لري چې د پشه ئي کلي په نامه ياديږي ، دوئ ځانته خاصه ژبه لري چې هغه هم په پشه ئي ياديږي . دغه ولس د اليشنګ د درې په لوړو برخو لکه دولت شاه او فراجغان کې هم او سيږي او په پشه ئي ژبه خبرې کوي ۰

يولسم - هزار ميښ:

دوئ دلغمان ولايت د تيرګړو په علاقه کې پراته دي او غريبکاره خلک دي ۰

دولسم - ميچن خيل:

دوئ دلغمان د عمرزيو د علاقې شمال ته يو لوی کلی لري دوئ هرې خوا ګر ځي او د نظرانې په ټولولو کې مصروف او دښه مهارت خاوندان دي ۰

ديارلسم - ناصر:

دوئ دلغمان ولايت د مندروړ د سيمې په جنوبي برخو کې ، او همداغسې د کابل شکردره او د افغانستان په نورو سيمو کې اوسيږي دا خلک زړور او جنګيالی دي ۰

څوارلسم –اکاخيل:

دوئ هم دلغمان د عمرزيو دمنطقې په شمالي برخه کې ميشته او کورونه لري د اوښانو او رمو روزنه کوي او د غره څخه لرګي راوړي او خر څوي يې ۰

پنځلسم –ديګان ) دهکان):

دوئ په دري خبرې کوي او کورونه يې د افغانستان په نورو سيمو کې هم شته ۰

شپاړسم – محمد زي:

دوئ ځای ځای کورونه لري او د محمد زيو پا د شاهي کورنۍ په وجه دوئ هر چيرې ښې آبادې ځمکې تر لاسه کړي دي ۰

اولسم - ريکا ګان:

دوئ دلغمان ولايت د چاردهي په علاقه کې محدود کورونه لري او دکابل ريکا خانه ددوئ اصلې مرکز دی.

اتلسم - عمرخيل:

دوئ دلغمان د چاردهي ) شاه ګذربابا او قلعه اخوند کلي تر څنګ ( کې زميندراه کورنۍ د ي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د کابل په میدان کې هم زیاتې ځمکې لري ۰

نولسم - وریا خیل:

دوئ د لغمان د ولایت د عمرزیو د علاقې په لر او بر کې هستوګنه لري او خلک یې کاریګر او دهقان کاره دي دوئ د کابل په پغمان او دبغلان دولایت په مرکز کې هم ځمکې او کورونه لري.

شلم – وردګ:

دوئ دلغمان ولایت د عمرزیو دعلاقې په جنوبي برخو کې اوسیږي او په کابل کې د وردګو په علاقه کې مشهور قوم دی ، په دوئ کې ښه د کار او میړانې خلک تیر شویدي او د انګلیسانو داستعمار په مقابل کې د غازي محمدجان خان مبارزه د هیریدو نه ده دا قام تل په سیاسي جریاناتو کې لاس او برخه لري ۰

یویشتم - تاجک:

دوئ په لغمان او د افغانستان په نورو ولایاتو کې اوسیږي ژبه یې دري ده۰ چې دفارسي ژبې سره لږ تو پیر لري. وایي دري د دربار خخه اخستل شوی او دا ژبه یو وخت د درباریانو ژبه وه ۰

دوه ویشتم– میرعلي خیل :دوئ دلغمان د باد پښ په علاقه او نورو سیمو کې اوسیږي ۰

درویشتم - نیازي:

دوئ دلغمان د ولایت داعلینګار په سیمه کې پراته دي ددوئ کورونه د کابل جنوبي خواته هم شته ، وایي دوئ د صافیو یوه ریښه ده۰ څوک وائي: چې دوئ مستانه کورنۍ ده.

نیازي په کندوز اوخان آباد کې هم ځمکې اوکورونه لري ،چې غټ کلي ئې ملرغی نومیږي نیازي د پاکستان د پنجاب په سیمه کې هم ډیر شمیر او سیږي. نیازي د تخار ولایات د تالقان دمرکز او مربوطاتو کې لکه دقو لبرس په سیمه هم او سیږي ، خصوصآ په قو لبرس کې ډیرې ځمکې او کورونه لري.

څلورویشتم -اړوکي:

دوئ د لغمان د الینګار په منطقه کې اوسیږي او ددوئ تر څنګ خانې او اختیار خیلو په نامه نور پښتانه قامونه هم پراته دي ۰

پنځه ویشتم _ الکوزي)الکوځي ):

دوئ په لغمان کې لږې کورنۍ پیدا کیږی مګر د افغانستان په نورو ولایاتو کې هم شته او مشهور قام دی۰

شپږویشتم: سادات:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوئ دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم اولاده ده په لغمان کې ځای په ځای کورونه لري ، دوئ ته میران او پاچایان هم وایې په لغمان کې خواجه ګـان د ابوبکر صـدیق ) رض ( «حضرات» او د حضرت عمر فاروق اولاده هم شته ۰

اوه ویشتم - لطف الله خیل: دوئ دلغمان ولایت د تیر ګړو خانان او هلته د سنګ تودو ( د قریه اوسیدونکي دي ۰) سنګ تودو

اته ویشتم – بابکر خیل : دوئ د لغمان ولایت د الینګار د سیمې مشهور خانان دی او په کابل کې هم کورونه لري ، او درباري خلک ؤ.

نه ویشتم – نورستاني:

په لغمان کې ددوئ کورونه شته خو د لغمان شمال ته د نور ستان سیمه یوه لوی ولایت دی چې اکثره یې په ځانګړې ژبه غږیږي )سانسکریت ( ، دوئ د امیرعبدالرحمن په زمانه کې تابع او مسلمان شویدي د امیر حبیب الله خان په دوره کې ددوئ ډیرې ښځې او نجونې دوینځو په توګه دهغه دربار کې خدمتونه کول. چې د امیر امان الله خان په دوره کې آآزادې کړل شوي۰

د نورستان دخلکو بچیان د امیر عبد الرحمن خان په دوره کې دربار ته لاره پیدا کړه چې په دې اثر ډیر پاخه او پوره خلک پکې وروزل شول چې بیا ورسته د افغانستان په اجتماعي ، ساختماني سیاست او ازادي په ساحه کې لوی رول درلود ، امیر حبیب الله په لغمان کې د قلع السراج تعمیر او باغ اباد کړ ، دا ځای په ژمي کې د امیر حبیب الله ژمني پلازمینه وه چې د بچې سقاو په وخت کې دا دملت په پیسو اباد شوی تعمیر وران او ویجاړ کړ شو ، امیر حبیب الله خان به د لغمان په کله ګوش کې هم میلې چړچې او شکار کا وه چې اخر هم هلته د شپې له خوا په خیمه کې د یو نامعلوم شخص له خوا وویشتل شو دده د مرګ څخه وروسته دده ځوی امیر امان الله خان باچا شو ۰

دیرشم – درګي: دوئ دلغمان ولایت په شمال شرق د شمنګل په قریه او د درګو د اوبو له پاسه کلو کې اوسیږې او کوچیان هم لري ۰

یو دیرشم – علی خیل:

دوئ د لغمان ولایت په شمال شرق دشمنګل او صابره ډوپې کلي کې اوسیږي او څه کورونه یې په کابل کې هم شته ۰

دودیرشم – ابراهیم خیل : دوئ د لغمان د ولایت د مندروړ په علاقه کې شاو خوا میشته دي ۰

دري دیرشم – محمد خیل : دوی د لغمان په ولایت کې هستوګنه لري ۰

څلور دیرشم – خیرو خیل : دوئ لغمان د ولایت د مندروړ په جنوبي ساحو کې پراته دي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه دیرشم – قولان :

دوئ لکه د کوچیانو په شان کابل او مشرقي او په خاصه توګه کابل ، لغمان ته تګ راتګ کوي او د تجارت کسب یې درلود مګر اوس یې په کابل کې ډیر کورونه او تجارتونه پیدا کړي دي ۰

شپږ دیرشم – اهل هنود :

دوئ هم دلغمان ولایت د تیر ګړو په کلي کې ساکن دي او هلته ځانله درمسال لري چې خپل دیني مناسک هلته اجرا کوي دوئ هم تجارت پیشه دي او د تیرکړوپه پخواني بازار او اوس دلغمان په ولایت کې دوکانونه لري۰

درنو لوستونکو!

د لغمان په ولایت کې اکثر خلک په پښتوژبه خبرې کوي او په دوهمه درجه کې دري ژبه ډیرویونکي لري اونورې ژبې یې لکه پشه ئي او نورستاني او شاړي دي چې په اقلیت کې حسابیږي۰ دلغمان ولایت د قامونو او ولسونو په ریښو کې زیاتې مطالعې او څیړنې ته ضرورت دی او په اقتصادي ، جغرافیوي او تاریخي مسایلو کې یې بحث پوره ریسرچ غواړي ۰

په عمومي لحاظ د لغمان په ولایت کې د قومونو مختلفې پرګنې پیداکیږي او داسې معلومیږي چې دتاریخ په اوږدو کې په لغمان باندې ډیر مختلف انقلابونه ، تحو ولونه او تطورات راغلي دي ، خو ددې ټولو سره سره باید ووایو چې اوس هم دلغمان ولایت اکثره کورونه د خټو ، پخې یا خامو خښتو کورونه بې نقشې ابادې او په بې نظمه توګه عمومي ژو ند د مشکلاتو او لانجو سره مخامخ دی همدارنګه اوس هم هلته اکثرا د لمړ ی پیړ ی ددورې دودونه ،رواجونه روان دي ۰

د لغمان خلک د زیات طبعي ذکاوت لرونکي دي او خاوره یې د زراعتي او تخنیکي ښه بدلون لپاره اماده ده ۰په ډیر تاسف سره بایدوویل شي چې په لغمان کې دقامونواو پرګنو د نفوسو تراکم ، بې کاري او بې غوري زړه سوزونکی ده چې د قدرت خاوندان باید ورته جدي او خاصه پاملرنه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لسمه برخه
# د لغمان په کلواوباندو کې د اخترونو رواجونه:

د لغمان په کلوکې د اخترونو دودنـه او رواجونه ډیر په زړه پورې دي، کلي وال د اختر په ورځو کې تفریحې پروګرامونه لري ، هلکانو ته يې مور او پلار نوې جامې رانيسي چې د اختر په سهار هر څوک خپلې نوې جامې اغوندي او دکور د مشرانو سره د اختر د لمانځه لپاره جومات ته ځي، کله چې د اختر لمونځ وشو نو د اختر د مبارکۍ لپاره د خپلو خپلوانو او دوستانو کورنو ته ځي ۰

په اخترونو کې دلغمان ولايت په مختلفو سيمو کې لکه د مهترلام بابازيارت ، د ولايت په مرکز ، دتيرګړو په پخواني بازار ، داستانې کلی چې دچاردهي په سيمه کې موقعت لري، بي بي هاجره ، بي بي صيب،مندروړ ،قرغه يي ،اليشنګ او الينګار په ولسواليو کې په زړه پورې پروګرامونه اوميلې جوړيږي۰
دکلوهلکان دخپلو مشرانو سره ميلې ته ځي ، رنګ شوې هګۍ جنګوي او دکور لپاره ماهي ،ځلوبۍ ،کجورې ، وچې او تازه ميوې او نور خوندور خوراکي توکې د اختر مبارکۍ کور ته له ځانه سره راوړي ۰

مسلمانان په کال کې دوه مذهبي اخترونه لري چې يويې کوچنی اختر دی چې د روژې د مبارکې مياشتې له تيريدو څخه وروسته راځي او بل لوی اختر دی چې د کوچني اختر څخه دوه مياشتې او لس ورځې وروسته راځي ۰

په اسلامي هېوادونو کې دغه دواړه اخترونه په ځانګړيو مذهبي او دوديزو مراسمو سره نمانځي چې په يادشوو هېوادونو کې د اخترونو مذهبی مراسم يو ډول او په دوديزو برخو کې له يو بل سره تو پير لري۰

خلک د اختر له لمانځه وروسته خپل کورونو ته ځي په کور کې کشران مشرانو ته د اختر مبارکي ورکوي او بيا نږدې ګاونډ کورونو ته ورځي او له يوه کور څخه بل کور ته ورځي او د اختر مبارکي له يوې مخې پيل کيږي۰

که څوک د قرباني کولو نيت لري نو کوچنی حيوان لکه وزه او يا پسه په کور کې قرباني کوي او که څوک په لوی څاروي کې شريک وي لکه غوا ،غويي،اوښ،مېښه ،نو بيا په لوی څاروي کې اوه تنه شريک کيږي۰

د شرعي اصولو له مخې د قربانۍ غوښه په درو برابرو برخو ويشي،يوه برخه يې ځان لپاره جلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او بله برخه دبيوزلو لپاره اودريمه برخه دخپلو خپلوانو لپاره جلا کوي چې بيوزلو اوخپلوانو ته په تقسيم سره غوښه ورليږي.

خو په ځينو سيمو کې بيا د قرباني غوښه په درو برخو نه ويشي. د خپلو او بيوزلو برخه د اختر په ورځو کې پخوي او هر څوک چې ورکره ورځي هماغه غوښه ورته راوړي . د اختر په ورځو کې هغه خلک چې له يو بل نه خپه وي د لاسه کيږي او کيني له منځه وړي.

ښځې او په ځانګړې توګه پيغلې نجونې د اختر په ورځو کې ډلې ډلې زيارتونو ته ځي چې له ډېرو ليرو ځايونو نه، مشهورو زيارتونو ته رواني وي او د ورځې ډېره برخه هلته تېروي.

د اختر په شپو ورځو کې د خوارو شيانو اخېستل زيات وي ، ډېري سوداګر کلچې، ميټايي، کيک او هګۍ راوړي او د روژې وروستۍ اوونۍ کې د همدې توکو د خرڅوني له امله بازارونه له ګڼې ګوڼې ډک شي

غواړم په دې برخه کې ستاسو توجه خپلې يوې لنډې ادبي ټوټې ته چې سر ليک يې دی کوم اختر؟ راوګرزوم :

## کوم اختر؟

زموږ د کلي د تروږمۍ مـاښام څخه څوشيبې دمخه د کلي يو تنکي لس کـلن هلک خـوشحـاله بريښيده ،دهلک دخوشالۍ علت يو هم دا وه چې هغه د سبا ورځې د اختر د راتګ څخه خبر شوي وه. هلک ته د هغه مور او پلار د اختر لپاره نوي جامي، څپلي او واسـکت رانيولـي وه چې هغه په همـدي ماذيګر قضاد سباورځې نوې جامې اودنـږدې دوسـتـانو د اختر مبـارکـۍ تحفې په خپل وجود کې تمثيلولې او همدا وجــه وه چې هلــک ته يې خوشحاله ښه ورکــړې وه،په ريښتيـا سره کــوم اختر چې ماشوم ته سبا راتلــونکی وه، نه تنها هغه ته بلکې د کلي ټولـــو او سيدونکو ته يې د خوشحالي زيـــری ورکاوه.

هو ،کوم اختر ؟ د کوراوکلي اختر ،اوکه دمهاجرو اختر ،کوم چې د خپل کور ،کلــيو او بــانډو څخه لرې په پردي وطن کې لمانځي ؟ دا يو څــرګنده خبره ده چې اختر هر چاتــه هرچيرې او په هرځــاي کې چې وي پوره او يا نيمه خوله خندا او خوښي وربښي.

## نو اختر کوم اختر؟

دا د ځــوانــانـو د خــوښيو اختر
د پيغــلو نجــنو د ټـــاليو اختر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکــور او کـــلـــي اخـــتــر
چـــي لـور دودونــــــه لـري

د ســپــوراو پـــــلي اخــتر
ښــه رواجـــونـــه لـــري

دا د خــوښيــواتــنــونو اختر
دا دخوشحاله ســرودونــو اختر

دی دبیوزلوکونډو رنــډو اختر
د یتیـــمـــانو او بــربــنــډو اختر

د غريبــانو او خـــانـــانو اختر
د مسلمـــانودينـــــدارانو اختر

وي مبارک دي په تمـامو خلکو
وي برکـت دي په تمامو خلکو

ښه افغاني دود او رسمــونه لري
خدايګوچي ښکلي رواجونه لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوولسمه برخه
# دلغمان د دترګړو دجامع جومات خطيب او د ازادۍ د لياري
# مبارز مولوي عبدالمجيد

لمړی

خدای بښلی دکتور محمد سعيد ) سعيدافغاني (چې دلغمان د ولايت دترګړو دجامع جومات خطيب مولانا عبدالمجيد مشر زوی دی ، په خپل کتاب) زما ژوند ( کې د هغه په هکله ليکي:

زما پلار مرحوم عبدالمجيد د لغمـــان ولايــت دعمرزيو د قريې د خيراباد په کلي کې هستوګنه درلوده او دمولوي سيد اميرخوی وه ، مـولوي سيد امير چې دخپل وخت کره عالم او د ښه ملي شهرت او اعتبار خاوندوه دلغمان په کله کوټ کې چې دعمرزيو دقريې څخه په جنوب کې تقريبا شپږ ميله لرې موقعت لري اوسيده چــې د خپلو شـــاګردانو درسي حلقه يې درلوده او د خپل عمر زياتره مده يې هلته تيره کړې ده او پــه هغه ځـــای کې علاوه د تدريس څخه د خلکو د مشکلاتو او پربلمونو په حلولو کې د زيات ولسي قدرت او اعتبار خاوند وه ۰ مولوي سيد امير هلته کله کوټ ته نژدې د علي خيلو پـه کلي کې چې دکــوزې ډوپې په نامه يادېږي د يو مشهور عالم چې پـه صوفي صاحب مشهور وه دهغه د لورسره نکاح وکړه ، صوفي صاحب په منطقه کې دبا نفوذو اشـخاصو څخه وه چې په ډوپې کې يې د ځلوښت جريبو په شا او خوا مځکه درلوده ۰

مرحوم مولانا سيد امير ډير شاګردان روزلي دي چې د هغې جملې څخه د تګاب ملا صاحب فضل او مرحوم د هدې صاحب نجم الدين اخونزاده چې په ملا بزرګ مشهور وه د يادولو وړ دي۰
مولوي عبدالمجيد صاحب بــه قصه کوله هغه وخت چــې زه شاګرد وم امير عبدالرحمن خـان نجم الدين اخونزاده د هغه د مشهورو ماذونانو سره د تندور خاني پـــه سيمه کې بندي کړی وه ځکه چې هغه د ولسي اعتبار او شهرت څخه برخورداره وه، ملابزرګ چې دخپل وخت دير متقي او مشهور عالم وه زه هغه وخت د هغه تپوس ته جيلخاني ته لاړم او خبر مې ورکړ چې زه د مولوي سيد امير خوی يم او ستاسو ليدو ته راغلی يم ۰ همغه وه چې زه يې په ډير شوق وغوښتلم او په زياد اعزاز يې روغبړ را سره وکړ او شکر يې وويست چې د مـولانا سيد امير صاحب ځــوی دومره شوی دی چې زما پوښتني ته راځي او له ما سره يې ډير لطف وکړ۰ زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادیږي کله چې زه د خپل پلار سره په ورستیو وختو کې تګاب ته لاړم زما پلار د ملا بزرګ صاحب د مقبرې پوښتنه وکړه دهغه قبر یې پیدا کړ او د اخلاص فاتحه یې پرې ولوستله ، د هغه په قبر یوه زړه ګنبده ولاړه وه ۰

وایي چې د مولانا سید امیر تر مړینې وروسته دهغه ځوی مولانا عبدالمجید ډیر وړوکی وه چې د خپل مورنی نیکه صوفي صاحب په کور کې پاته شوی وه ،څرنګه چې مور یې هم په وړکتوب کې مړه شوې وه نو دده تربیه دهغه دمورنۍ نیا په ذمه واخستله ،چې هغه یوه ډیره پرهیز ګاره ښځه وه او اولادیې نه درلود نو دمولوي صاحب عبدالمجید په روزنه کې یې پوره پاملرنه او اهتمام کوه ۰
څه موده نه وه تیره شوې چې د مولوی صاحب مورنی نیکه صوفي صاحب هم وفات شو او صوفي صاحب بل نارینه اولاد نه درلود او تربوران یې دیر ظالمان وه د هغه د کور مالونه یې چور او مځکه یې ترې ونیوله ۰
مولوی صاحب عبدالمجید به ویل ۰ زموږ په کورنۍ کې زموږ د پوښتنې څوک نه وه او زموږ د پلار د تره ځوی محترم محمد شریف خان هم د خپل پلار فتح محمد خان څخه وړوکی پاته شوی وه نو همدا دلیل وه چې د تربورانو د ناروا په مقابل کې موږ بې وسې وو ۰

څه موده ورسته زما ماد ري نیا په ما باندې تعلیم شروع کړ ،دهیریدو نه ده چې د لغمان د صبر اباد مولوي سید عالم د ډوپۍ کلي ته زموږ پوښتنې ته راغلی وه په ما یې ډیره مهرباني وکړه او د نصیحت په طرز یې راته وویل ۰ پلار دې مشهورعالم وه ۰ ته ضرور باید د پلار ځای ونیسې ، ځه چیرته د کوم عالم سره دیره شه او صرف او نحوه او نور کتابونه ولوله کوشش وکړه چې وخت درنه عبث تیرنه شي ترڅو ښه عالم درنه جوړ شي ۰

هغه ویل چې د مولوی صاحب سید عالم نصیحت په ما زیاد تاثیر واچوه او دده دلاربنونې سره سم مې په زدکړې پیل وکړ په یو ځای او بل ځای کې مې پــه لږه موده کې صرف نحوه او بیا نور کتابونه ولوستل او بیا مې دمنطق او حکمت دکتابونو په لوستلو شروع وکړه او د وخت د څخه مې زدکړه وکړه چې پوره په دې کتابونو کې لایق شوم چې زیادتره مشهوروعالمانو شاګردان به ماته دتدریس لپاره راتلل ۰ ما پدې تحصیل اکتفا ونکړه او د تحصیل او زدکړې په مقصد په ښیوه ، د لغمای په چهارباغ ، قرغیو او مزینه کې دیره شوم او وروسته لدې څخه د تحصیل په مقصد پیښور ته لاړم ،هلته په پیښور ارغشتو او اشنغرکې مې دمعنوي ، لوی منطق ، حکمت ، تفسیر ، احادیث ، فقه اصول ،میراث ،ریاضي ،تجوید او نور دوخت مشهورعلوم دښو پیاوړو استادانو څخه ولوستل ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چې پــه هغه وخت کې چــا چې به مروج علــوم ولــوستل د وخت د مشهورو علماو بــه ورته تصديق ورکاوه چې د استادی ور دی نو هغه ته به بيامــولوي صاحب ويـل کيده او د مولويتوب پګړی به دده په سر باندې مشهورو علماو په ول تړله ، چې مولوی عبدالمجيد هلته دا افتخار تر لاسه کړی وه ۰
د مولوي صاحب عبدالمجيد د سفر ملګري په دې باور وه چې هغه په ملګرتوب کې د پوره اخلاص خاوند وه ، د ده له ملګرو او ملګرو لدې سره پوره وفا کوله ۰ زما مرحوم پلار مــولانا محمد سعيد سعيد افغاني ليکې چــې زما نه ياديږي چــې زما دمــرحــوم پلار مولوي عبدالمجيد څخه دې چا شکايت کړی وي ،ده به خپل ملګري ډير په احترام يادول او په غياب کې به يې ستاينه کوله همدا وجه وه چې دده ملګروزما سره زما په ژوند کې دهغه په خاطر ښه رويه درلوده ،ده به د خپلو ملګرو څخه خوږې قصې کولې او دخپل سفر ملګري به يې ډيريادول او پــه دې جمله کې دمولوي محمد ابراهيم کامه وال ، مولوي الهام الدين چــې د لغمان په کــڅ کې دکجور ملا په نامه يې شهرت درلــود ، دچهارباغ مولــوي عبيدالله ، مــولوي محمد عالــم ، او قــاضي عبدالقدوس د لغمان د چهارباغ څخه ډيرې ښې خاطرې حکايت کولې ، همدارنګه مولــوي عبيدالله او مــولوي محمد عالم صاحب چې په اول کې دهغه د سفر شاګردان وه چې په نتيجه کې ډير ښه عالمان شول ۰

دې ويل دکجورو ملا صاحب په سفرکې دجمعې په شپو کې ديرښه او خواږه اشعار او نعتونه ويل او هغه وخت د هغه يو مشهور وروروه چې هغه ښه متصوف او مشهور واعظ عالم وه ،هغه په وعظ کې ژړل په مخ او ګيره به يې اوښکې روانې وې ، دې قصه کوله يو وار داسې پيښه شوه چې د کجورو ملا صاحب دغه ورور په وعظ کې ډير وژړل خوکله چــې د وعظ څــخه خلاص شــو نــو په يو خاص مجلس کې ورته وويل: وروره دا څومره زيــات ژاړې ، ژړل ښه کار ندی سترګو ته دې تاوان رسو ي او که نــه زه هم کولی شم چې خپل مړ پلار يا خپله مړه مور را ياده کړم او له تا څخه ډ ير وژاړم ۰
مولو ي عبدالمجيد په ټولو مروجو علومــو کې تدريس کاوه خو په منطق او حکمت کې يې ډير شهرت درلود خو دعمر په اخر کې ددې د تصوف جذبه زياته شوه نويې د تفسير ،حديث ، فقه ، او تصوف علومو مطالعه زياته کوله همدا وجه وه چې تګاب مشهور متصوف اخونزاده صاحب څخه يې د قادرې طــريقه وکړه ، ددې طريقې په ټولو اذکارو او اورادو کې د مازونۍ مرتبې ته رسيدلی وه او د زياتو مريدانو او مخلصانو خاوند وه۰

څرنګه چې د ښه تقوا او علم خاوند وه نو خلکودی مجبورکړ چې د لغمان ولايت د تيرګړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور او جامع مسجد د خطابت وظیفه هم په غاړه واخلی ، پدې مسجد کې دی ډیر عمر دجمعې په ورځو کې موثرې خطابې ایرادې کړی دی چې دده شهرت د شاګردانو او مرید انو له لیارې نه تنها په لغمان او ننګرهار کې بلکه په ټول افغانستان کې زیات شو ،هغه ډیر ښه اواز او د ژبې فصاحت درلود او د ښه اخلاص او ګذارې خاوند وه ۰ نو همدا وجه وه چې هره ورځ له هرې خوا نه وربانديې د روحي او معنوي استفادې په منظور هجوم وه او دده په دیره کې به لنګر چلیده چې تراوسه پورې په لغمان کې زیات خلک دده د وعظ ،معقولې اونمونې روایتونه کوي۰
مولوی عبدالمجید دامیر عبدالرحمن د پادشاهي د وختونو قصې کولې چې په دې هکله یې داسې ویل: امیرعبدالرحمن په خلکو باندې زیات رغبت اچولی وه او یواځې دنوم څخه یې خلک بیریدل حتی هغه وخت چې هغه مړشو خلکو د ډارې ډیر وخت دده د مرګ روایت قدرې هم نشو کولای ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دولسمه برخه

## دلغمان د دترګړو دجامع جومات خطیب او د ازادۍ د لیارې مبارز مولوي عبدالمجید

دوم

مولوي عبدالمجید د وطن د استقلال او ازادۍ په مبارزه کې پوره او موثره برخه درلوده او د خپل قومي ځوانانو، مشرانو، شاګردانــو او پیروانو سره د انګلیسانو په مقابل کې دډکې، تورخم او ناجي په سیمو کې جنګیدلی دی ۰هغه به ویل چې موږ به د شپې له خوا د انګلیسانو په عسکري کمپونو داړه اچوله چې په دې اثر به د انګلیس عسکر ډیرو لانجو سره مخامخ وه ده به ویل په هغه شپو او ورځــو کــې چې صالح محمد خان عسکري افغاني منصبدار مــاتې وخوړه موږ برید پرینښود بلکه د غرونو په څوکوکې مو د شپې له خوا اورونه ددې لپاره بلول چې تر څو انګلیسي عساکر پدې پوه شي چې مجاهدینو د جهاد محاز ندی پریښودلی او د مقابلې لپاره حاضر دي ۰

مولوي صاحب به ویل: د صالح محمد خان د تیښتې په وجــه پــه دغه ورځ او سباته د مبارزینو معنویات ښه نه وه خو دیني علماوو دمبارزینو معنویات تقویه کول او له بلې خوا مجاهدینو ته د وطن دهرې خوا زیات او تازه مرستې رسیدلې او په ټولو بریدونو کې ملي مقاومت ښه پیاوړی شــو چې پدغه برخه کې د ننګرهار او سرحدونــو د اوسیدونکو جذبات د هیرودو نــدی او نه د ساپیوو مهمندو ، شینوارو ، خوږیانو او دباجوړ ځوانانو سرښندنه به د یاده ووځي ۰

باید ووایم چې د بلې خوا دا شکست ددې موجب شو چې دپښتونستان د سیمو اوسیدونکي د انګلیس د استعمار په ضد را وپاریدل او د هــرې خــوا څخه دمیړاني او جهاد غورزنګونه په ډیر جوش او خروش پیل شول، همدا وجه وه چې انګلیس دې ته متوجه شو چې د اعسکري بریالیتوب نور هم لانجې زیــاتې کړې او عمومي احساسات یې ددوئ په ضد وپارول ، نو همداوه چې د خپل زیات ویر ې په وجه یې په هوایي بمبارد پیل وکړ او غوښتل یې چې په دې ډول په جنګیالیو کــې ویره واچوي خو دا کار نور هم خلک د مقاومت لپاره مصمم کړل او د شپې له خوایې په انګلیسي عسکر ي کمپونو باندې ډیر سخت یرغلونه تر سره کړل ۰

مولاناعبدالمجید ویل چې په دې جهاد کې ځماخــواږه خواږه ملګری او یاران شهیدان شول او یو وارداسې پیښه شوه چې زموږ د اوسیدو په خاصې غونډۍ د بمونو اوریدل شروع شول چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديو بم په اثر موږ د خاورولاندې شوو خودنورو مجاهدينو په مرسته ژوندي له خاورو وويستل شوو ۰

هغه به د جهاد کيسې زياتې کولې او دخپلو افغانانو ميړانه يې په هغه وخت کې زياته ستايله ۰ ده ويل: افسوس چې د وطن په جهاد کې دملی مبارزينو سره کافي وسله او ازوقه نه وه بلکه يوائې ددوئ همت اوميړانه وه چې مقابل محاذ ته يې ماته ورکړه ۰هو، اکثره مبارزينو په نيم نس او نيمې تندې خپل د جنګ محاذ ساته ،چا سره شلخی توپک ، چا سره تفنګچه ، چا سره توره او دچا سره يوائې بيل اوکلنګ وه چې د زمرو په شان به يې په اورحملې کولې ۰

ده به ويل: د ژوبلې او مرګ ډاره د چا سره نه وه بلکه پدې عقيدې وه که ژوندی وې د جهاد ثواب درپه برخه کيږي اوغازي به وې او که مړ شوې نود شهادت مرتبه مومې ۰
ده ويل: دوطن يه جهاد کې دمشرقي محاذيوازې ملي مبارزينو په برکت قوي پاته شوا وعسکري شکست او تيښته د مشرقي خلکو ته لکه د هيوا د د نورو سيمود مجاهدينو په شان د منلوړ نه وه بلکه دهغه وخت واقعات اوپيښې ددې ثبوت ورکوي چې ملي مبارزينو په يوه دوه ورځو کې عسکري خلا هم ډکه کړه بايد ووايم چې د صالح محمد خان د تيښتې په وجه د ټولو عسکرو عسکري طاقت له مينځه لاړ نشو بلکه ډير وړومنصبدارانوبې له کوم عسکري تنظيم څخه خپل د جهاد محاذونه کلک وساتل چې په دې جمله کې سور ناصري جرنيل دخپلو عساکرو سره د تورخم په محاذ کې په پوره ميړانې جنګيده ۰

مرحوم محمد شريف کامه وال چې په نجم المدارس کې مدرس وه دا قصه زياته کوله او ويل به يې چې دصالح محمد خان دتيښتې دوهمه ورځ وه ، زه په تورخم کې وم او په ليارہ کې زخمي شوم حرکت مې نشو کولی خو نصيب دا وه چې په ما باندې سور جرنيل مسلح په اسپ سپور د خپلو عسکري ملګرو سره راغی ، زه يې پورته کړم او سور جرنيل دخپل ځان سره په خپل اسپ د شا له خوا سپورکړم او دی په انګليسانو باندې ډير له قهره لکه دزمري په شان غړمبيده ۰

ځما پلارمرحوم دکتور محمدسعيد ) سعيد افغاني (ليکي: هغه وخت چې زه په نجم المدارس کې مدير وم سور جرنيل ژوندی وه او د عمرپه اواخروکې يوځل مدرسې ته راغی ما په خپله حجره کې ميلمه کړاودهغه ډير احترام او قدر مې وکړ ، د شپې له خوا دده سره قرانکريم او د کارتوسو ډکه تفنګچه وه ۰ وايي چې دده عادت وه چې د عمرترا اخره يې تفنګچه له ځانه سره ګرزوله ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي محمد سعيد ) سعيد افغاني ( ليکي چې ځما مرحوم پلار مولوي عبدالمــجيد به وعظ او تبــليغ دقرانــکريم د ايتونو او احاديثو په لوستلو په ډير خواږه اواز کولو او ځای ځای به يې په مناسب ډول د جـلاالدين رومـي د مثنوي ،حافظ شيرازي ،ګلستان ، بـوستان او داسې نـورو کتابونو او د دپښتو شاعرانو شعرونه او منظومې په خواږه اواز لوستلې ۰ هغه به د ميا عبدالکــريم صاحـب اشعارخوښول اوزيات به يې لوستل چې په هغه جمله کې :يې دا بيت يې زيات لوسته

اول دې خوب په بالښتو او باليـنچو کړه جانانه
اوس دې د ګورچينجي بازي کړي هر اندامه سره
: يا د حافظ شيرازي دا بيت
شب تاريک بيم موج ګرداب چـنين هايل
کجا دانند حال ما سبک ساران ساحل ها
:دا شعرونه يې د عمر په اخره کې زيات لوستل
همه با هوا و هوس ساختی
دمی با مصالح نپرداختی

همنشينان تو در کنج لحد خاک شدند
چشم عبرت بکشا خواجه اګر انسانی
:يا دا بيت
صبح صادق ملهم کافور دارد در بغل
ګر علاج زخم عصيان ميکنی بيدارباش

مولوي عبدالمجيد يوه وړکۍ کتابخانه درلو ده چې په هغه کې مختلف علوم موجود وه خو ده به په سفرکې خپل قرانکريم ، دلايل الخيرات او تنبنيه الغافلين کتابونه زيات له ځانه سره ګرزول او لوستل به يې ۰ ده به د تجهيد وظايف زيــات کول اوډجذبو په حالاتو کې يې تصوفي اشعار ويلې او کله به يې ورسره ژړلې هم ۰

ده دنظم په کتابونوکې پوره مــهارت درلوداو د اشعارو ګلچين ور سره وه ، ده به دملي او وطني خدمت لپاره هم زيات کار کولو اودضرورت په وخت کې به يــې د بيچاره ګانو سره لازمه مرسته کوله ، دی د پوره جرت خاوند وه او په وعظ ، تبليغ ، جلسواو مرکوکې به يې په صراحت خپل تحليل وړاندې کوه او کله کله به يې ډيرغټ غټ خلک هم تـرټل خو په خلکو باندې دده قهر او غصه دده د اخلاص او بې الايشی په وجه بده نه لګېده ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده سره د ډيرو خلکو اخلاص وه او دده د ليدو لپاره د ډيرو لرې ځايو څخه خلک راتله ، دې به کله د تبليغ او اصلاح لپاره د لغمان درو غـروکلو او بانډو ته هم تللو او هلتـه به وربـاندې زيات خلک را ټوليدل ، ده به اکثره په پښو منزل کوه چې کله به داس سورلۍ هم ميسره کيده ٠

هغه د پوره ذکاوت خاوند وه او ډيرو باريکيو ته متوجه کيده هغه به ويل: د خدای پاک مخلوق سره د اخـلاص ژوند کول په کاردي او د اخلاص ثمره او نتيجه حتمي ښه په زړه پورې وي ٠
دې د ولايت او کرامت دعوانه کوله حـتی ويـل يې زه سره ددمره وظيفه کولوتر اوسه هم دکـوم کشف او مکاشفي خاوند نه شوم ٠
ده دملاې لنګ د شورش په وخـت کې هغه وخت چې د امير امان الله خان په ضد انقلاب جوړوه په پغمـان کې يوه لويه جرګه جوړه شوه د خپل قام او دلغمان د ولايت د علماو او دخلکو په وکالت وکيل انتخاب شو او دهغه وخت په لويه جرګه کې يـې فعاله ونـډه درلوده ، دې پـه هغه وخت کې پوهيده چې په امـير امان الله خان پاندې دکفر فتوا او په دې اثر د افغانستان څخه دهغه وتل ښه کار نه وه ٠ هغه سره لدې چې د ديني پاکې جذبې خاوند وه داستعمار دسيسو ته ښه متوجه وه او د وطن د خير او سعادت لپاره ډير هوسيده ٠
هغه ددين څخه دناروا استفادې مخالف وه او ديني علماو لپاره يې په خيراتو ژوند کول نه لوريده همدا وجه وه چې هغه به ويل :
کاشکې ديني علما علاوه د ديانته دخپـل رزق او روزی برابرولو لپاره کار او کسب هم وکړې او داسې نه چې دين ددنيا لپاره وسيله وګرځوي ٠
دې به ويل : دې عـاجـز اوبيچاره ته ګوره چې خپلې نفقې ته حيران دی خو په قرض او سود هم خير او خيرات ورکوي او خپل ځان نورهم محتاجوي ٠اوويل به يې چې دې ملا او پيرصاحب ته ګوره چې هرڅه لرې خوبياهم د يوعاجز او فقير له لاسه خيراتونه اخلي ٠
ده په هر چا باندې دپـوره عـاطفې اوصلې خاونـد وه او دروحي جذبې په وخت کې به بل ډول ښکاريده او په ځينو حالاتو کې به ور څخه دتاثر او انفعال چيغه او کريکه هم وتله ٠

هغه مـرحوم مجاهد نجم الدين اخنـذاده صاحب ته عقيده درلوده همدا وجه وه چې کال کې بـه يو ځل او کله دوه ځله هډې ته دده قبر د زيارت دعا له امله تلو ، ده به ويل دا مـرحوم دخپل عصر مبارز وه او دوطن دابادی او ازادی لپـاره يې نــه هيــريدونکي جهادونه او خدمتونه کړي دي ٠
مولوي عبدالمجيد د تګــاب اخنذاده صاحب د مـخلصانو څخه وه او د هغه د ذهد او تقوا زياتې قصې کولې ، د نجم الدين اخنذاده صاحب د مشهورو ماذونانو لکه د سنګر شيخ صاحب ، د بتخاک حضرت صاحب ، د اسلام پورشيـخ صاحب پاچا صـاحب ، د تـرګړو پاچا صاحب ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرکانو میا صاحب ، صوفي صاحب ،چکنور ملا صاحب اونورو علماو د تقوا ،
اعتبار او شهرت قصې کولې ۰
مرحوم مولانا عبدالمجید په کال ۱۳۲۰ ه ش کې د ژمـي په شپو او ورځو کې مریض شـو او یو
څو ورځې پس له مریضي حق ته ورسید ۰
انا لله و انا الیه راجعون
د ده جنازه په ډیر اعجاز پورته شوه او په پوره احترام د لغمان د ولایت د عمرزیو د قریې د
خیراباد د کلي په هدیره کـې خاورو ته وسپارل شو ۰
دی فوت شو خو دده دصالحو اعمالو نقش تر اوسه پاتې دی، اوس موږ دده روحي خوښي او
ددی د ښه اعمالو د پیروی او هغه ته پرته له دوعـا څخه بله چاره نشته ،نو الهی تـه موږ تـه د ښې
پیروي توفیق راکړې او دده په روح کې دې د خپـــل رحمت فیضان زیات او دایم وګر ځوې ۰

امین یارب العالمین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیارلسمه برخه

# د لغمان لرغونی تاریخ او جغرافیوي موقعیت

## لمړی

د لغمان لرغوني تاریخ او جغرافیوي مــوقعیت پــه اړه څیړونکو او تاریخ پــوهانــو ډیرې څیړنې او لیکنې کړې چې پدې برخه کې د هیواد د معاصره څیړونکو او لیکوالا نو ښاغلي شهسوار سنګروال صیب او د ښاغلي پوهنیار ظفر اهتمام د معتبره تاریخي لیکنو او همدا رنګه د انترنیتي پانو څخه په زړه پورې او کره مطالب راټــول شوي چې د دې مطالبو یادونه پدې برخه کې لا زم او ضروری ګڼل کیږي٠ هیله ده چې د دې مطالبو په راټــولولو سره مــو د لغمان تاریخ او د هغه د جغرافیوي موقعت په اړه درنو لوستونکو ته د پام وړ معلومات برابر کړي وي٠






لغمان ( لمپاکا-لمغان )

### جغرافیوی موقعیت :

لغمان د افغانستان د ختیځ ولایتــونو څخه دی چې شمال ته یې بدخشان ، سهیل لور تــه یې ننګرهار او کــابل ، ختیځ لور ته یې کونړونه او لویدیز پلو ته یې د کاپیسا او کابل ولایتونه پراته دي ،د کیشت او کاشمونډ غره لویدیځ ته د لغمان ولایت د جنوب له خوا رانیولی دی هر څومره چې د لغمان ولایت د جنوب له خوا د شمال په لور پر مخ لاړ شي د ځمکې جــګوالی یې زیاتیږي٠

لغمان د ځینې روایاتو له مخې د کابل څخه تر پیښوره ټولو سیمه رانیوله دا ځای د هغه پخوانۍ لیارې پــــه سرپروت او یو مهم دمه ځای دی چې له سروبي څخه د باد پیچ یا باد پښ غاښې را پدې خوا په زیړاني دښته کې راتیر شوی او د الیشنګ او الینګار د رودونو د مخامخ کیدو په نقطه کې کوم ځای چې د نـــیسا یا لرغونی ښار پروت وه رارسیږي او له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایه ادینه پــور یا دینپور ، نګاراهار او بله ځانګه یې د ګمبیري په دښته کې کنړونو ته ورغځیدلې ده ۰

دلغمان پراخــتیا ۷۲۱۰ کیلومتره مربــع ده او د نفوسو شمیره یې ۳۱۰۶۵۱ کسانو ته رسیږي او په یو کیلو متر مربع مځکه کې یې ۴۳ کسه وګړي ژوند کوي ۰
دلغمان ولایت څلور ولسوالۍ لري چې د قــرغیو ، الینګار ، الیشنګ او تنګراج ولسوالیو څخه عبارت دی همدا رنګه دوه علاقه دارۍ لري چې دولت شاه او منډول نومیږي ۰ دلغمان ولایت ټول کلي ۶۴۰ دي ۰

## د لغمان لرغونی تاریخ :

لغمان یو مهال دالینایانو د مربوطاتو څخه وه او همدا شان د بودایي مدنیت ددې سیمې مرکزیت بلل کــیده او د اشوکایا دهندي یوریانو د کورنۍ پاچا د دورې ډبرلیکونــه او همدا رنګه د درنتې ترڅنګ د یو شمیر بودایي اثار ودرلودونکي دي هغه چې د ځیرونکو او پوهانو د پوره پاملرنې وړ دي ۰
لغمان د افغانستان د نورو ولایتونو په څېر یو مهم ولایت دی چې اوږد تاریخ لري. د پخوانیو او زړو متونو له مخې د لغمان لرغونی نوم "لمپاکا "دی او د ګندهارا له هغو مهمو ښارونو څخه دی چې د ټکسلا نه)تکزیلا ( را واخله تر پېښوره او بیا ترکاپیسا او بامیانو پورې به پرې تګ او راتګ کېده ۰
هغه مهم ښار چې په دغه لــویه لاره اباد وو "نیکایه " یا "مینسه " په نوم یادیده. لرغونپوهــانو د څیړنې له مخې ددغه ښاربنسټ هغه مهال د سکندر له خوا کېښودل شو چې نوموړی دافغانستان
د شمالي سیمو د نیولو نه وروسته دوهم ځل د هندوکش جنوب د پنجشیر د سیند په اوږدو کې لـــه کــاپیسا نه د نجراو او تګاو له لارې "لمپاکا " یعنې لغمان ته راورسید ۰

د لغمان ولایت د ختیزو سیمو په لاره کــې د یونانــي سکندر لپاره د پام وړ وو. نو ځکه یې د "مندوړ" او چارباغ ترمینځ کرغیو ته نږدې د "نیکا " په نوم ښار ودان کړ. یوناني سکندر د بري په موخه خپل پوځ په دوه برخو ووېشـــه چې یوه برخه یې لــه لغمانه دده په مشرۍ د کنړ له لارې د سوات پــه لور او دلښکرو دویمه بــرخه یې د جنرال "پرویکاس " او "هغستیون" په مشرتابه د کابل او لغمان سیند د جنوب اړخ لورته تر خیبردرې پورې پرمخ لاړ چې پــه پای کې د سکندر ټول ځواکونه په "اندس " یعنې د سیند رود په برخه کې یو ځای شول ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلغمان دلرغونتوب یوه بله مهمه بېلګه دا ده چې د لغمان د پلازمېنې نه ښايي د درې ميلو په واټن لويديز لور کرغيو ته نږدې د "شله ټک " د غره په لمنه کې هغه کښل شوي ډبر ليکونه چې په 1348 لېږديز لمريز کال تر ستر ګو شول ددغو ډبرليکونو له "ارامي "ليکدود نه دا ډاګيزه کيږي چې د "اشوکا " د مهال په واکمنۍ کې ښايي کښل شوي وي نو ځکه خو دغه ليکدود دهغه مهال يو ټاکلی زمان په ګوته کوي .

دغه دوه ډبر ليکونه چې د يوه ډبر ليک په څلورمه کرښه کې د (لمکان جتي Lemkan Jiti ( نوم ګورو له دې څخه دې پايلې ته رسيږو چې لمکان )وروسته لمغان ( داوسني لغمان لرغونی نوم دی. که څه هم له دې نه د مخه د لمپاکا په نوم ياد يده .

اشوکا )د بندو سارا زوی او د چندراګوپتا لمسی ( د موريا د کورنۍ دريم واکمن وو چې له هندوستان نه راواخله تر ارغنداب پورې ځمکې يې لاندې کړې وې. د اشوکا ډبرليکونه هغه وخت د لويديزې نړۍ کارپوهانو ته مشهور شول چې لرغونپوه پوهاند )Marestunمارګستن) او )Altham التهم) وروپېژندل. چې وروسته بيا په دې برخه کې)Perclaned "پرکلند ( هم په څېړنو او ژباړنو لاس پورې کړ .

په 1949 زيږدې کال د پوهاند "هنيګ" په زيار او نوښت د اشوکا په "ارامي "ډبرليک چې په لغمان کې تر لاسه شوی وو په دې اړه يوه اوږده او هر اړخيزه مقاله وليکله شوه چې د لرغونپوهانو له پاره ډېره د پام وړ وګرزېد .

څرنګه چې اشوکا يو روحاني شخصيت وو تل به يې د ټولنې اخلاقي اړخ ته پاملرنه کوله نو ځکه به يې دا ډول ډبرليکونه کښل او په داسې يو ځای کې به يې دا کار کاوو چې د هرليدونکي پام به ورته را ګرزېده . له لغمان نه سربېره دا ډول ليکنې او انځورونه په کندهار، ننګرهار )درونټه ( او ټکسلا کې هم چې ورته ښه لري کښل شوي دي .

مشهور څېړونکي او تاريخپوه "بيلو "* وايي په هغه مهال به هندوانو ګندهارا ته د "شمال جنت" وايه خو د بده مرغه چې د چنګېز د تاړاکونو له بابته هغه ډېرين ښارونه چې د اوسني مهال د ختينو خښتو په ځای ډبريني خښتي پکې کارول شوي وې )او هم هغه انځورونه او تصويرونه چې پکې ايستل شوي وو او ځانګړې ارزښت يې درلود ( له مينځه لاړل .

د ګندهارا اوسيدونکو هندوانو ته چې يو مشهور ټاټوبی يې لغمان وو که له يوې خوا دغه سيمه د طبعي ښکلا له بابته په زړه پورې وه خو له بلې خوا ورته د مذهبي دودونو له کبله هم د پام وړ وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بېلګې په توګه په لغمان کې د کندنو له مخې کوم اثار چې د بودیزم او برهمنیزم د مذهبونو په اړه تر لاسه شوي د ډېر ارزښت وړ وو نو ځکه یې د دې دوه لاملونو له پلوه ګندهارا د " شمال جنت " وګڼانه.

دمخه مو یادونه وکړه چې لغمان په یوه لویه لار پروت ولایت دی او په لرغوني زمانه کـــې هم له سکندر نه را واخله بیا تر ګوډ تېموره پورې تیري کوونکـي دغې سیمې ته راغلي دي. د تېمور په اړه ویل کیږي چې د پنجشیر له لارې د لغمان الیـشنګ ته راغلی و او غوښته یې چې د لغمان نورســتان )بلورستان ( تــه ځان ورسوي خو نورستان ته په لاره کې یې لس زره سر تیري له مینځه لاړل نو بیا یې د نورستان د سیند په غاړه د الیشنګ په ناجل کې یوه کــلا ودانه کړه چې اوس هم د تېمور کلا په نوم یادیږي .

ګوډ تېمور ځکه په ډېرې چټکۍ هغه مهال خپل ځواکونه تر شا کړل چې سرتیرو یې په هغو غرونو او ګړنګونو کې جګړه ونشوه کولای او هره ګړۍ له مینځه تلل نو غوره یې وګڼله چې له دغه سیمې نه پښې سپکې کړي. نوموړي د کتهور په دره کې هم یو ډېر لیــک کښلی دی چې دده د تیري ننبه یې ګڼلای شو .
دارنګه د لغمان په الیشنګ دره کې د امیر حبیب اله خان په مهال یو ډبرلیک چې د تاریخ نه دمخه پېر پورې اړه لري ترسترګو شوی دی چې پخپله امیر هم هغې کتیبې د لیدلو له پاره ورغلی وو چې عکس یې بیا د مارچ 25 نېټه )1917 م ( چــې د وري لــه پنځمې )1296 ش( سره برابره وه د سراج الاخبار په خپرونه کې خپور شو .

کومې انځور شوې کرښې چې په دغه ډبر لیک کې ګورو ښایي چې 5000 کاله دمخه د پخوانۍ ډبرې پېړیو پورې اړه ولـري څیړونکي په دې اند دي چې دغه کښل شـوې او انـځور شوې کرښې له هغو کرښو سره ورته دي چې د سمنګانو په شپاړس )16 ( کیلو متري کې تر سترګو شوي.
د تېرې خبرې په ټینګار نه یوازې دګوډ تېمور لښکرې نورستان ته نه دي رسېدلي بلکې د سکندر پوځونه هم نورستان تــه پــه لاره کې په ګونډو شول دا ځکه چې د نــورستـــان طبــعي او جغرافیوي جوړښت داسې دی چې هېڅ بهرني پوځ نه دی ایل کړی.

څېړونکو دا منلې چې د سکندر پوځونه بلورستان تــه نــه دي رسېدلي خــو هغه وخت چې سکندر لغمان ته ورسېد لکه د مخه مو چې وویل کرغیو ته نږدې یې یو ښار ودان کړ او دغه ښار په نامه یادېده چې دغه " Naisa نومیده هغه ښار ته نږدې وو چې د "نیسا " Naica چې "نیکا ښاردشرابو د ښار په نوم مشهور شو او مذهبي ارزښت یې هم د پام وړ وو. وایي چې دغه ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځای ته نږدې وو چېرته چې د الینګار او الیشنګ دواړه سیندونه یو ځای کیږي ۰

ځنې څېړونکي وايي چې د "نيسايا" ښار د کونړ په چغسراى کې ودان وو او هغه ځای ته نږدې
وو چې د اسمار او پېچ سیندونه سره يو ځای شوي دي ولې ځنې لرغونپوهان وايي چې دغه
ښار د ننګرهار په اډه نومي ځای کې اباد وو. "موسيو فوشه" په دې اند دی چې د "نيسه" ښار په
کوزني لغمان کې چېرته چې د الینګار او کابل سیندونه سره يو ځای شوي دي ودان وو چې
وو چې په تاريخ کې "ديونيزوس " Diwnaisah د ښار د ساتونکي نوم "ديو نيسه
هم راغلی دی. په لرغونو تاريخونو کې د الینګار او الیشنګ يادونه ډېره " Diwnaisyus
شوې ده آن په ويدي سرودونو کې هم د هغو لسو اريايي ټبرونو د نومونو په لړ کې چې د راوي
)پنجاب( د رود په غاړه سره نښتي وو يادونه کړې دا ټبرونه الينا )الینګار او الیشنګ( ،
بهالانه )د بولان د درې خلک( ، شيوا )د سيند غاړې خلک( ،پورو )د ګندهارا شاوخوا خلک( ،
انوپکتيه )د پښتنو ټبر( او نور وو ۰
ولې ځنې د بلورستان خلک هم الينا بولي. يونانيانو ځنې ميتولوژيکي پېښې له يونان نه
افغانستان ته راوړي دي لکه چې د پرومته زندان يې د هندوکش په يوه سمڅه کې انځور کړی
دی ۰

ولې پخوا تر دې چې يونانيان خپلې استورې افغانستان ته راوړي زموږ په هېواد کې د
)Mahshwara مهشوارا( په نوم د نمانځنې )رب النوع( استوره وه چې د لوړو غرونو ساتونکی
يې
باله. نو ويلای شو چې "ديونيزوس" د شرابو يوناني رب النوع نه وو بلکې دا هماغه "
مهشوارا "د غرونو ساتونکی دی چې د غرونو په سرونو يې انځورونه تر سترګو شوي دي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوارلسمه او وروستۍ برخه



## د لغمان لرغونی تاریخ او جغرافیوي موقعیت

### د ویم

ځني څېړونکي د لغمان د لرغونتوب په اړه دا خبره هم کوي چې نو موړی ولایت د افغانستان د ځنو نورو سیمو او ولایتونو په څېر د هندوکش د لرغوني تهذیب له وارثانو څخه دی چې په دوي کې خنجان، اندراب، شتل، سالنګ، پنجشیر، نجراو، تګاو، کاپیسا، لغمان، نورستان، چترال، سوات، باجوړ، دپامیر د غره په لمنه کې مېشت او سیدونکي او نورد ببلګې په توګه یادولای شو.

د) هیوان څنګ (له څېړنو نه ډاګیزه شوي چې د اومې زیږدي پېړۍ په نیمایي کې له کاپیسا او باګرام نه نیولې تر لغمان او ننګرهار پورې ددې سیمو او سیدونکود برهمنیانو ددودونو پـه رڼا کې خپل ځانونه په ایرو لړل او دا کار د کابل برهمن شاهانو هم کاوو خو د صفاریانو د ګواښنې له بابته د هېواد جنوبي سیمې له دغو پېروانو او پلویانو څخه پاکې شوې او د غزنویانو په مهال کې له لغمان او جلال اباد څخه هم د دغه دود لمن ټوله شوه نوموړی وایي:
"زه چې 630 زیږدي کال په دوبې د پنجشیر د رود په غاړه ننګرهار ته تلم د کابل او پنجشیر د رود په ګډونځي چې ورتیرشوم د کیڼ لاس خواته مې د لمپاکا )او سنی لغمان( ولایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. تر لمپــاکا چې ور تیر شوم "نګاراهارای ")ننګرهار ( ته ورسیدم ۰

کله چې د تګین کورنۍ الپتګین غزني ونیو او د "لویکانو "کورنۍ یې تر شا کړه نوموړې یو کال په غزني او زابلستان کې واکمن وو. دده له مړینې وروسته بیا غزني او ګردېز پاچا "لویک " د کابل شاه د زوی په مرسته تېرې وکړ خو د سبګتګین له لاسه یې ماته وخوړه. سبګتګین پوه شو چې د پښتنو پاچالویک سره دده جګړه پای نه لري نو د خپلې اوښیارۍ له کبله یې له پښتنو سره خېښې او خپلوي وکړه او ځان یې د هغوي زوم کړ. بیا نو د پښتنو په مرسته یې بست، زمینداور، تخارستان ، غور ، بامیان او زابل ونیو او همدارنګه د کابل د رود په غاړه د لغمان په سیمه کې د "جیپال "له لښکرو سره مقابله وکړه او د هغه سل زره لښکر یې د پښتنو په زور مات کړ او تر پېښوره پورې ځمکې یې لاندې کړې په دې اړوند نامتو تاریخپوه عتبي او ابن اثیر هم کاږلي دي چې غلجي پښتنو له نوموړي سره ډېره مرسته وکړه او دده ملګري شول۰

هغه وخت چې سلطان حمید لودي د ملتان واکمن وو نو له لغمان نه تر ملتانه دا ټولې ځمکې دده په واک کې وې. د نوموړي د واکمنۍ هغه لوری چې تر لغمانه پروت وو په "حدود العالم "کې داسې راغلي دي: "دا هغه سیمه وه چې د "لمغان "د سیند په غاړه پرته وه، لمغان یو ودان هېواد وو ، د سوداګرۍ چارې په کې پرمختللې وې او ډېر سوداګر په دغه ښار کې مېشت او استوګن وو. ډېرو او سپېدونکو لمغانانو به بوتانو ته عبادت کاوو. په لمپاکا کې ډېرې وریځې کیږي هوا یې نرمه او پسته ده له ساز او اواز سره مینه لري، اوښیاران او تېز فکره خلک دي۰

د کابل مجلې 5 کال 6ګڼه کې هم د لغمان ولایت په اړه داسې لولو : "ددې سیمې ځنې برخې په هغه مهال کې د کاپیسا د پاچا تر لاس لاندې وې چې جنوب ختیز ته یې د ننګرهار لوی ښار پروت دی. "
دارنګه یو ځل بیا د حدودالعالم یادونه کوو چې د لغمان په اړه یې لیکلي دي: "دینور لمغان د سین پر دابله غاړه د لمغان د ښار په برابر یو بل ودان ښار وو چې د خراسان سوداګر هلته اوسېدل ۰

د اسلام د سپېڅلي دین له خپرېدو نه وروسته لغمان )پخواني نومونه لمغان او لمپاکا ( هغه اوسنی نوم دی چې د لرغونو نومونو په ځای اوس په همدغه نوم یادیږي. یوه ښېرازه غوړېدلې سېمه ده چې له پخوا نه اباده او سمسوره وه.
هغه کډوال چې د هېواد له بېلابېلو سېمو څخه را کډه شوي دي یو شمېر ډېر د بېلابېلو قومونو او توکمونو خیلو نه په لغمان کې ودان دي د اوسنیو سر شمېرنو لـه مخې په سلو کې 73

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه، په سلو کې 14نورستاني )که څه هم اوس نورستان مستقل ولایت دی ( په سلو کې 12 پشه يي )شاړي ( ، همدارنګه نور ورونه قومونـه لکه تاجک، عـرب، هندوان، ګـوجـر، سادات او نور ددې ولایت اوسېدنکي دي. پلازمېنه يې د مهترلام ښار دی او مهمې ولسوالۍ يې الينګار، اليشنګ، قرغه يي او دولت شاه نومېږي٠

دلغمان دا يادې شوې اولسوالۍ ځکه مشهورې دي چې د سکندر پوځونه کرغيو ته نږدې په يوه ودان ښار کې پراته وو. )الينا ( لکه څنګه چې يې دمخه يادونه وشوه د آريايي لسو قبيلو څخه يوه قبيله وه چې په الينګار، اليشنګ، نورستان او د لغمان پـه نورو سېمو کې استوګن وو چې اوس يې هم )ګار- شنګ ( د "الينا "لرغونی نوم خوندي کړی دی. دارنګه دلغمان دپلازمېنې مهترلمک )مهترلام ( په اړه هم ويل کيږي چې پخپله هيوان څنګ هم د اګست په 15 نېټه په 630 زيږدي ( کې د کاپيسا له لارې نه دې ځايته رسېدلی دی. ده ته ډاګيزه شوه چې دلته د لسوتيګو )ډبرو ( په شاوخوا کې عبادت ځايونه جوړ وو چې د سيمې نوم يې "لان پو ")چې په سنسګرت کې لمپاکا ( و. دلته دوه ډبر ليکونه هم وو چې د يوه ډبر ليک په دربمه کرښه کې د "لمک "توری کښل شوی وو. ښايي چې دغه د مهترلمک او يا مهترلام نوم وي او يا دا چې "مهترلام "نـوم دی او "لمک ")لمکان=لمغان =لغمان =لمپاکا ( يې تخلص دی چې په زړو متونو کې لمک =لمکان د اوسني لغمان لرغونی نوم دی٠
سکندر چې کله هندوکش ته راورسيد د غرونو دا لړۍ يې د نړۍ پای وګانڼه او دايې " قفقاز "د هندي قفقاز په صفت "کوکاکوس انديکوس "وباله چې دهندوکش اوسنې نوم هم "انديکس " نه مينځته راغلی دی٠

هره خبره چې وي وي به خو کله چې سکندردلته را ورسېد ددې ښکلي ښار پاچا )Bacuse " بکوس (

چـې دشرابـو رب النوع وولـه نومـوړي سره وليدل او غـوښتنه يې تـرې وکـړه چــې ددې ښار د اوسېدونکو ازادي ته درناوی وکړي٠
سکندر بيا د "بکوس "غوښتنه او وړانديز ومانه نو ځکه يې د تيري نه لاس واخست ... هغه مهال چې دسکندر پوځونه د لغمان له دغې سېمې نه په دوه برخو وويشل شول چې يو شمېر يې د سکندر په مشرۍ د کونړ له لارې سوات ته او بـله ډله د خيبر له لارې روانـه شوه. دا دواړه ډلــې په اټک کې يوځای شوې او د ټکسلا پاچا "امبي "ته يې ځواب ولېږه ، هغه هم له سکندر سره روغه جوړه وکړه خو د لغمان د واکمن په څېر يې خپل وړانديز ورغبرګ کړ٠

ځنې په دې اند دي چې لمک د لغمان لرغونی نوم دی او "مهتر "دمشر په مانا دی. "مهتر لمک "يانې د لغمان مشر يا پاچاوه٠د ويدي په سندرو کې چې تقريبا 14 سوه کاله تر مــيلاد د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اريايي رو حانيو نو او شعراوو له خواجوړ شوي دي، دلغمان نوم د "لامهک " په شکل ذکر شوی دی " سر مـــحقق بختانی، ژبخېړنه ، 210 او 211 مـــخونه دا سـي روايتونه هم شته چي هغه مهال لغما ن په لر او بر وېشل شوی و. کوزنۍ برخې ته يې "بهــالانا " ويـلې او برنـۍ برخې ته يې "لامهکا ". د لامهکا اوسنی نوم لـــعمان او د بـهالانا اوسنی نـوم "بولان" دی چې دکرغيو ولسوالۍ پورې اړه لري ښايي دا خبره هم د حقيقت نه لرې نه وي چې پر دې خاوره به دا دوه توکمه اباد وو .

مهترلمک )ع(

مهترلمک د نوح )ع( پلار دی ښځه يې قيــنوش د نوح مـــوروه . او په حقه پيغمبرتېرشوی دی نوح ع دحضرت ادم ع دکوزيدو څخه) ۱۶۴۲ ( کاله وروسته پيغمبري تـــه رسېدلی. د لمـــک ع پلار «متوشلخ»، نبکه يې اختوخ اوغور نبکه يې «يارد» وو ؛کله چې د نوح ع کښتۍ کېنا سته يو شمېروګـړي دمهترلمک )ع( او دده ورور نورلام) رح ( اوخورېې بـي بـي حاجـري سره يوځای د نورستان په لاره اوسني الينګارته راغلل،خلک يې حق دين ته رابلل او بيا په بېلابېلو ځايونو کې مېشته شول .

تاريخي روايات وايي چې لمک په لغمان کـې وفات شو ،خور او ورور يې هم په الينګار کې وفات شوي چې مشهور زيارتونه پرې جوړدي خورېې دهرمل او مـــيداني ترمينځ د بي بي حاجرې په نوم زيارت لري او وروريې نورلام صا حب د نورلام صا حب دره کې په زيارت کلي کې ښخ دی .

په مهترلام بابا ، سلطان محمود يوه ښکـلې مانـۍ جوړه کړې، ځکه هغه ځوځله خوب لېدلی ؤچې دی پيغمبردی او پـه دښته کې پروت دی هـمدا رنګه دمهترلمک د پيغمـبري په هکله د مشهور روحاني شخصېت د کچورې ملا صاحب وېناوې چې تل يې ويلې: هو !مهترلام با با په حقه پيغمبر دی هم د ثبوت وړ ده .

دمهترلام با با د مزار خواته يو ستر باغ او حضيره)هديره (ده په دې هديره کې ستراومشهورکسان لکه: يوسف خان د غازي محمد نادر خان شهيد پلار ، شهزاده فريدون،غازي محمد شاه خان بابکر خېل ،فيض محمد خان او نور غازيان ښخ دي. اوزيـار تو ته يې خلک له لرې ځايو څخه راځي پخوا به لـه هنداوپنجا ب نـه هم د لته خلک او ګـرځندويـان راتلل د پنجشنبې اوجمعې پـه ورځـوبه په ځانګړې ډ ول دلته د سا ز،سند رو او مـذهبي موسيقۍ په لس ګـونو ډلې مـوجودې وې شپه او ورځ به يې مينه وال په وجّد او مستۍ را وستل دغه دود اوس هم په پسرلي کې لمانځل کېږي .

Www.Afghannang.Com
Afghannang@hotmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**